د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# د قرآن کريم زده کړه
# او
# اسلامي ښوونه او روزنه

## شپږم ټولگی

ي پـه
ع ده. له

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د قرآن کریم زده کړه
# او
# اسلامي ښوونه او روزنه

## شپږم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمیټې

**لیکوال:** سرمؤلف الحاج مولوي بسم الله بختیار د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

**سلاکاره کمیته:**

۱_ دکتور احسان الله د اسلامي علومو د دیپارتمنت آمر.

۲_ سرمؤلف الحاج بسم الله بختیار د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی

۳_ عبدالرقیب جهید د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

۴_ سرمؤلف محمد انیس یونس د عربي ژبې او ادبیاتو د دیپارتمنت آمر .

۵_مولوي عبدالوکیل د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

٦_ مؤلف شیر احمد مسعودی د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

۷_استاد رقیب الله ابراهیمي د اسلامي علومو د د یپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

۸_مایل آقا متقي د اسلامي علومو د د یپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

**د څېړنې او تدقیق کمېټه:**

۱_ پوهاند عبدالسلام عظیمي قاضي القضات او د سترې محکمې رئیس.

۲_ قضاوت پوه استاد قیام الدین کشاف.

۳_ قاضي نذیر احمد حنفي د ولسي جرگې د تقنین کمیسیون مرستیال.

۴_ مولوي عبدالعزیز د ولسي جرگې د دیني ، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیون غړی .

۵_ کرامت الله صدیق د حج او اوقافو وزارت د تدقیق کمیسیون رئیس.

٦_ مولوي عین النعیم فیضي د علماؤ د سراسري شورا غړی .

۷_ مولوي عنایت الله بلیغ د علماؤ د سراسري شورا غړی .

**د محتویاتو، سیاسي، فرهنگي، او دیني برخو د څېړنې او کره کتنې کمېټه:**

۱. ډاکټر عطاء الله واحدیار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئیس.

۲. دکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت لوی سلا کار.

**د څېړنې او تدقیق د څارنې کمېټه:**

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین
- دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر گلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس

**کمپوز او ډیزاین:** رحمت الله غفاری او حمیدالله غفاري

### د مطالبو فهرست


| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | د قرآن کریم د زده کړې مضمون | ۱ ــــــ ۱٦ |
| ۲ | د اسلامي ښوونې او روزنې مضمون : لومړی فصل : عقاید | ۱۷ ــــــ ۲۸ |
| ۳ | دویم فصل : فقه | ۲۹ ــــــ ۴۹ |
| ۴ | دریم فصل : اخلاق | ۵۰ ــــــ ٦۰ |




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوهنې د وزير پيغام**

**گرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختگ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي گټورې موضوعگانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه گرځيدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده‌کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې گډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ گران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپيڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرگندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډگر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو موسسو، او نورو ملگرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردگ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

## د قـــــرآن کـــــريم د زده کړې مضمون

# د يادولو برخه (۱)

**<u>لومړی لوست:</u>**

**د مخکينيو ياد شوو سورتونو لکه : الفاتحه، الناس، الاخلاص، المسد، النصر، الکافرون الکوثر او الماعون بيا تکرارول.**

**<u>دويم لوست:</u>**

**د مخکينيو ياد شوو سورتونو بيا تکرارول لکه: قريش ، الفيل، الهمزة، العصر، التکاثر، القارعه، العاديات او الزلزلة.**

**<u>دريیم لوست:</u>**

د القدر سورت (له تجويد سره تلاوت او يادول)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

إِنَّآ أَنزَلْنٰهُ فِى لَيْلَةِ الْقَدْرِ ﴿۱﴾ وَمَآ أَدْرٰىكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ﴿۲﴾ لَيْلَةُ
الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ﴿۳﴾ تَنَزَّلُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا
بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ ﴿۴﴾ سَلٰمٌ هِىَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ﴿۵﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

**څلورم او پنځم لوست:**

**د التّين سورت (له تجويد سره تلاوت او يادول)**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ○
وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ ① وَطُورِ سِينِينَ ② وَهَٰذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ ③
لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ④ ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ
سَافِلِينَ ⑤ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ⑥
فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ ⑦ أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ ⑧

# د تلاوت برخه (۱)

**شپږم لوست:**

**د المطففين سورت له (۱ـ ۱۱) ايتونه (له تجويد سره تلاوت)**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ○
وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ ① الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ ②
وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ ③ أَلَا يَظُنُّ أُولَٰئِكَ أَنَّهُم
مَّبْعُوثُونَ ④ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ⑤ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ
الْعَالَمِينَ ⑥ كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٍ ⑦ وَمَا أَدْرَاكَ
مَا سِجِّينٌ ⑧ كِتَابٌ مَّرْقُومٌ ⑨ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ⑩
الَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوْمِ الدِّينِ ⑪



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اووم لوست :**

**د المطففين سورت له ( ۱ ۲ ــــ ۱ ۷ ) ایتونه (له تجوید سره تلاوت)**

وَمَا يُكَذِّبُ بِهِ إِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ﴿١٢﴾ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ
آيَاتُنَا قَالَ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾ كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَىٰ
قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾ كَلَّا إِنَّهُمْ عَنْ رَبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ
لَمَحْجُوبُونَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّهُمْ لَصَالُو الْجَحِيمِ ﴿١٦﴾ ثُمَّ يُقَالُ
هَٰذَا الَّذِي كُنْتُمْ بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿١٧﴾

**اتم لوست:**

**د المطففين سورت له( ۱ ۸ ـ ۲ ۸ ) ایتونه (له تجوید سره تلاوت)**

كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْأَبْرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ ﴿١٨﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا عِلِّيُّونَ ﴿١٩﴾
كِتَابٌ مَرْقُومٌ ﴿٢٠﴾ يَشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُونَ ﴿٢١﴾ إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي
نَعِيمٍ ﴿٢٢﴾ عَلَى الْأَرَائِكِ يَنْظُرُونَ ﴿٢٣﴾ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ
نَضْرَةَ النَّعِيمِ ﴿٢٤﴾ يُسْقَوْنَ مِنْ رَحِيقٍ مَخْتُومٍ ﴿٢٥﴾ خِتَامُهُ
مِسْكٌ وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ ﴿٢٦﴾ وَ
مِزَاجُهُ مِنْ تَسْنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾

**<u>نهم لوست:</u>**

**د المطففين سورت له ( ۲۹ ـــ ۳۶ ) ایتونه (له تجوید سره تلاوت)**

إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُوا مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ ﴿٢٩﴾
وَإِذَا مَرُّوا بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾ وَإِذَا انقَلَبُوا إِلَىٰ
أَهْلِهِمُ انقَلَبُوا فَكِهِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوا إِنَّ
هَٰؤُلَاءِ لَضَالُّونَ ﴿٣٢﴾ وَمَا أُرْسِلُوا عَلَيْهِمْ حَافِظِينَ ﴿٣٣﴾
فَالْيَوْمَ الَّذِينَ آمَنُوا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿٣٤﴾ عَلَى
الْأَرَائِكِ يَنظُرُونَ ﴿٣٥﴾ هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

## د یادولو برخه (۲)

**<u>لسم لوست:</u>**

**د التکاثر، القارعه، العادیات، الزلزلة، القدر، او التین سورتونو له یاده تکرارول.**

**<u>یوولسم لوست:</u>**

د الانشراح سورت (له تجوید سره تلاوت او یادول)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ﴿١﴾ وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ ﴿٢﴾
الَّذِي أَنقَضَ ظَهْرَكَ ﴿٣﴾ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴿٤﴾ فَإِنَّ مَعَ
الْعُسْرِ يُسْرًا ﴿٥﴾ إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴿٦﴾ فَإِذَا فَرَغْتَ فَانصَبْ ﴿٧﴾
وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَب ﴿٨﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تلاوت برخه (۲)

**<u>دولسم لوست:</u>**

**د الانفطارسورت له (۱____۱۲) ایتونه (له تجوید سره تلاوت)**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
إِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ ﴿۱﴾ وَإِذَا الْكَوَاكِبُ انْتَثَرَتْ ﴿۲﴾ وَإِذَا الْبِحَارُ
فُجِّرَتْ ﴿۳﴾ وَإِذَا الْقُبُوْرُ بُعْثِرَتْ ﴿۴﴾ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ ﴿۵﴾
يٰٓأَيُّهَا الْإِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ ﴿۶﴾ الَّذِىْ خَلَقَكَ
فَسَوّٰىكَ فَعَدَلَكَ ﴿۷﴾ فِىْٓ أَىِّ صُوْرَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ﴿۸﴾ كَلَّا بَلْ
تُكَذِّبُوْنَ بِالدِّيْنِ ﴿۹﴾ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحٰفِظِيْنَ ﴿۱۰﴾ كِرَامًا كَاتِبِيْنَ ﴿۱۱﴾
يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۱۲﴾

**<u>دیارلسم لوست:</u>**

**د الانفطارسورت له (۱۳____۱۹) ایتونه (له تجوید سره تلاوت)**

إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِىْ نَعِيْمٍ ﴿۱۳﴾ وَّإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِىْ جَحِيْمٍ ﴿۱۴﴾
يَّصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿۱۵﴾ وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَآئِبِيْنَ ﴿۱۶﴾
وَمَآ أَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿۱۷﴾ ثُمَّ مَآ أَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿۱۸﴾
يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْئًا وَالْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ﴿۱۹﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څوارلسم لوست:**

**د التکویر سورت له ( ۱ـــــ ۱٤ ) ایتونه (له تجوید سره تلاوت)**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ
إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ۝١ وَإِذَا النُّجُومُ انكَدَرَتْ ۝٢ وَإِذَا الْجِبَالُ
سُيِّرَتْ ۝٣ وَإِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ ۝٤ وَإِذَا الْوُحُوشُ
حُشِرَتْ ۝٥ وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ ۝٦ وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ ۝٧
وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ ۝٨ بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَتْ ۝٩ وَإِذَا الصُّحُفُ
نُشِرَتْ ۝١٠ وَإِذَا السَّمَاءُ كُشِطَتْ ۝١١ وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ ۝١٢
وَإِذَا الْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ ۝١٣ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا أَحْضَرَتْ ۝١٤

**پنځلسم لوست:**

**د التکویر سورت له (۱۵ــ ۲۹) ایتونه (له تجوید سره تلاوت)**

فَلَا أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ ۝١٥ الْجَوَارِ الْكُنَّسِ ۝١٦ وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ ۝١٧
وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ ۝١٨ إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ۝١٩ ذِي
قُوَّةٍ عِندَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ ۝٢٠ مُّطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ ۝٢١ وَ
مَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ ۝٢٢ وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ ۝٢٣
وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ ۝٢٤ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ
رَّجِيمٍ ۝٢٥ فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ ۝٢٦ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ ۝٢٧
لِمَن شَاءَ مِنكُمْ أَن يَسْتَقِيمَ ۝٢٨ وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَن
يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ۝٢٩

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپاړسم لوست:

**د عبس سورت له ( ١ __ ١٦ ) ایتونه (له تجوید سره تلاوت)**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
عَبَسَ وَتَوَلّٰىٓ ﴿١﴾ اَنْ جَآءَهُ الْاَعْمٰى ﴿٢﴾ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّهٗ
يَزَّكّٰىٓ ﴿٣﴾ اَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرٰى ﴿٤﴾ اَمَّا مَنِ اسْتَغْنٰى ﴿٥﴾
فَاَنْتَ لَهٗ تَصَدّٰى ﴿٦﴾ وَمَا عَلَيْكَ اَلَّا يَزَّكّٰى ﴿٧﴾ وَاَمَّا مَنْ
جَآءَكَ يَسْعٰى ﴿٨﴾ وَهُوَ يَخْشٰى ﴿٩﴾ فَاَنْتَ عَنْهُ تَلَهّٰى ﴿١٠﴾ كَلَّآ
اِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ﴿١١﴾ فَمَنْ شَآءَ ذَكَرَهٗ ﴿١٢﴾ فِيْ صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ﴿١٣﴾
مَّرْفُوْعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ ﴿١٤﴾ بِاَيْدِيْ سَفَرَةٍ ﴿١٥﴾ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ﴿١٦﴾

## اووه لسم لوست:

**د عبس سورت له ( ١٧ ___ ٣٢ ) ایتونه (له تجوید سره تلاوت)**

قُتِلَ الْاِنْسَانُ مَآ اَكْفَرَهٗ ﴿١٧﴾ مِنْ اَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ ﴿١٨﴾
مِنْ نُّطْفَةٍ خَلَقَهٗ فَقَدَّرَهٗ ﴿١٩﴾ ثُمَّ السَّبِيْلَ يَسَّرَهٗ ﴿٢٠﴾
ثُمَّ اَمَاتَهٗ فَاَقْبَرَهٗ ﴿٢١﴾ ثُمَّ اِذَا شَآءَ اَنْشَرَهٗ ﴿٢٢﴾ كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ
اَمَرَهٗ ﴿٢٣﴾ فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ اِلٰى طَعَامِهٖٓ ﴿٢٤﴾ اَنَّا صَبَبْنَا الْمَآءَ
صَبًّا ﴿٢٥﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا الْاَرْضَ شَقًّا ﴿٢٦﴾ فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا حَبًّا ﴿٢٧﴾ وَّ
عِنَبًا وَّقَضْبًا ﴿٢٨﴾ وَّزَيْتُوْنًا وَّنَخْلًا ﴿٢٩﴾ وَّحَدَآئِقَ غُلْبًا ﴿٣٠﴾ وَّفَاكِهَةً
وَّاَبًّا ﴿٣١﴾ مَّتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْ ﴿٣٢﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

**آتلسم لوست:**

**د عبس سورت له ( ۳۳ــــ ۴۲) ایتونه (له تجوید سره تلاوت)**

فَإِذَا جَاءَتِ الصَّاخَّةُ ﴿٣٣﴾ يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ﴿٣٤﴾
وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ
يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴿٣٧﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾
ضَاحِكَةٌ مُسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾
تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾

## د یادولو برخه (۳)

**نولسم لوست:**

**د القارعه، العادیات او الزلزلة د سورتونو له یاده تکرارول.**

**شلم لوست:**

**د القدر، التین او الانشراح د سورتونو له یاده تکرارول.**

**یو ویشتم لوست:**

**د الضحی سورت له ( ۱ــــ ۵)ایتونه (له تجوید سره تلاوت او یادول)**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
وَالضُّحَىٰ ﴿١﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَىٰ ﴿٢﴾ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ﴿٣﴾
وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَكَ مِنَ الْأُولَىٰ ﴿٤﴾ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ
فَتَرْضَىٰ ﴿٥﴾

**دوه ویشتم لوست:**

**د الضحی سورت له ( ٦ _ ١١ ) ایتونه (له تجوید سره تلاوت او یادول)**

أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ﴿٦﴾ وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ ﴿٧﴾
وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ ﴿٨﴾ فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ﴿٩﴾
وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ ﴿١٠﴾ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿١١﴾

## د تلاوت برخه (۳)

**درویشتم لوست:**

**د النازعات سورت له ( ١___ ١٤ ) ایتونه (له تجوید سره تلاوت )**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
وَالنَّازِعَاتِ غَرْقًا ﴿١﴾ وَالنَّاشِطَاتِ نَشْطًا ﴿٢﴾ وَالسَّابِحَاتِ سَبْحًا ﴿٣﴾
فَالسَّابِقَاتِ سَبْقًا ﴿٤﴾ فَالْمُدَبِّرَاتِ أَمْرًا ﴿٥﴾ يَوْمَ تَرْجُفُ
الرَّاجِفَةُ ﴿٦﴾ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ﴿٧﴾ قُلُوبٌ يَوْمَئِذٍ وَاجِفَةٌ ﴿٨﴾
أَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ﴿٩﴾ يَقُولُونَ أَإِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِي الْحَافِرَةِ ﴿١٠﴾
أَإِذَا كُنَّا عِظَامًا نَّخِرَةً ﴿١١﴾ قَالُوا تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾
فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ ﴿١٣﴾ فَإِذَا هُم بِالسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلیرویشتم لوست:

### د النازعات سورت له (۱۵__۲۵) ایتونه (له تجوید سره تلاوت)

هَلْ أَتٰىكَ حَدِيثُ مُوسٰى ﴿١٥﴾ إِذْ نَادٰىهُ رَبُّهُ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾
اِذْهَبْ إِلٰى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغٰى ﴿١٧﴾ فَقُلْ هَلْ لَكَ إِلٰى أَنْ تَزَكّٰى ﴿١٨﴾
وَأَهْدِيَكَ إِلٰى رَبِّكَ فَتَخْشٰى ﴿١٩﴾ فَأَرٰىهُ الْاٰيَةَ الْكُبْرٰى ﴿٢٠﴾ فَكَذَّبَ
وَعَصٰى ﴿٢١﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعٰى ﴿٢٢﴾ فَحَشَرَ فَنَادٰى ﴿٢٣﴾ فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمُ
الْأَعْلٰى ﴿٢٤﴾ فَأَخَذَهُ اللّٰهُ نَكَالَ الْاٰخِرَةِ وَالْأُولٰى ﴿٢٥﴾

## پنځه ویشتم لوست:

### د النازعات سورت له (۲۶___۳۳) ایتونه (له تجوید سره تلاوت)

إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِمَنْ يَخْشٰى ﴿٢٦﴾ ءَأَنْتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ
السَّمَاءُ بَنٰىهَا ﴿٢٧﴾ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوّٰىهَا ﴿٢٨﴾ وَأَغْطَشَ
لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحٰىهَا ﴿٢٩﴾ وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ
دَحٰىهَا ﴿٣٠﴾ أَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعٰىهَا ﴿٣١﴾ وَالْجِبَالَ
أَرْسٰىهَا ﴿٣٢﴾ مَتَاعًا لَكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ ﴿٣٣﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

**شپږ ویشتم لوست:**

د النازعات سورت له( ۳٤ ـــ ٤١) ایتونه (له تجوید سره تلاوت )

فَإِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ
الْإِنسَانُ مَا سَعٰى ﴿٣٥﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِمَن يَرٰى ﴿٣٦﴾
فَأَمَّا مَن طَغٰى ﴿٣٧﴾ وَآثَرَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿٣٨﴾ فَإِنَّ
الْجَحِيمَ هِيَ الْمَأْوٰى ﴿٣٩﴾ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَ
نَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى ﴿٤٠﴾ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوٰى ﴿٤١﴾

**اووه ویشتم لوست:**

د النازعات سورت له ( ٤٢ ـــ ٤٦) ایتونه (له تجوید سره تلاوت )

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسٰهَا ﴿٤٢﴾ فِيمَ أَنتَ مِن ذِكْرٰهَا ﴿٤٣﴾
إِلٰى رَبِّكَ مُنتَهٰهَا ﴿٤٤﴾ إِنَّمَا أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخْشٰهَا ﴿٤٥﴾ كَأَنَّهُمْ
يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓا إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحٰهَا ﴿٤٦﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اته ویشتم لوست:**

**د النبا سورت له ( ۱ــــــ ۱۰ ) ایتونه (له تجوید سره تلاوت )**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
عَمَّ يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿١﴾ عَنِ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ ﴿٢﴾ الَّذِيْ هُمْ
فِيْهِ مُخْتَلِفُوْنَ ﴿٣﴾ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ﴿٤﴾ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ﴿٥﴾ اَلَمْ
نَجْعَلِ الْاَرْضَ مِهٰدًا ﴿٦﴾ وَّالْجِبَالَ اَوْتَادًا ﴿٧﴾ وَّخَلَقْنٰكُمْ
اَزْوَاجًا ﴿٨﴾ وَّجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ﴿٩﴾ وَّجَعَلْنَا الَّيْلَ لِبَاسًا ﴿١٠﴾

**نهه ویشتم لوست:**

**د النبا سورت له ( ۱۱ــــــ ۱٦ ) ایتونه (له تجوید سره تلاوت )**

وَّجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ﴿١١﴾ وَّبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ﴿١٢﴾ وَّ
جَعَلْنَا سِرَاجًا وَّهَّاجًا ﴿١٣﴾ وَّاَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرٰتِ مَآءً
ثَجَّاجًا ﴿١٤﴾ لِّنُخْرِجَ بِهٖ حَبًّا وَّنَبَاتًا ﴿١٥﴾ وَّجَنّٰتٍ اَلْفَافًا ﴿١٦﴾

**دیرشم لوست:**

**د النبا سورت له ( ۱۷ــــــ ۲۳ ) ایتونه (له تجوید سره تلاوت )**

اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيْقَاتًا ﴿١٧﴾ يَّوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ
فَتَاْتُوْنَ اَفْوَاجًا ﴿١٨﴾ وَّفُتِحَتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ اَبْوَابًا ﴿١٩﴾ وَّ
سُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾ اِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ
مِرْصَادًا ﴿٢١﴾ لِّلطّٰغِيْنَ مَاٰبًا ﴿٢٢﴾ لّٰبِثِيْنَ فِيْهَآ اَحْقَابًا ﴿٢٣﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يودېرشم لوست:

**د النبأ سورت له (٢٤ــــــ٣٠) ایتونه (له تجوید سره تلاوت)**

لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾
جَزَاءً وِفَاقًا ﴿٢٦﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ حِسَابًا ﴿٢٧﴾
وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا كِذَّابًا ﴿٢٨﴾ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ كِتَابًا ﴿٢٩﴾
فَذُوقُوا فَلَنْ نَزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ﴿٣٠﴾

## دوه دېرشم لوست:

**د النباسورت له (٣١ــــــ٣٧) ایتونه (له تجوید سره تلاوت)**

إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿٣١﴾ حَدَائِقَ وَأَعْنَابًا ﴿٣٢﴾ وَكَوَاعِبَ
أَتْرَابًا ﴿٣٣﴾ وَكَأْسًا دِهَاقًا ﴿٣٤﴾ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا
وَلَا كِذَّابًا ﴿٣٥﴾ جَزَاءً مِنْ رَبِّكَ عَطَاءً حِسَابًا ﴿٣٦﴾
رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمَٰنِ
لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا

(c) ketabton.com: The Digital Library

**درې دېرشم لوست:**

د النبا سورت له (۳۸ـــــــ ۴۰) ایتونه (له تجوید سره تلاوت)

يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَائِكَةُ صَفًّا ۖ لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ
أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذَٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ ۖ فَمَن
شَاءَ اتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِ مَآبًا ﴿٣٩﴾ إِنَّا أَنذَرْنَاكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا
يَوْمَ يَنظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي
كُنتُ تُرَابًا ﴿٤٠﴾

## د يادولو برخه (۴)

**څلوردېرشم لوست:**

**د الضحی، الانشراح او التين د سورتونو له ياده تکرارول.**

**پنځه دېرشم لوست:**

**د القدر، الزلزلة، العاديات او القارعه د سورتونو له ياد ه تکرارول.**

**شپږ دېرشم لوست:**

**د التکاثر، العصر، الهمزه او الفيل د سورتونو له ياده تکرارول.**

**اووه دېرشم لوست:**

**د قريش، الماعون، الکوثر، الکافرون، النصر، المسد، الاخلاص، الفلق، الناس او الفاتحه د سورتونو له ياده تکرارول.**

# د تلاوت برخه (۴)

**اته دېرشم لوست:**

## د البقره سورت ۲۵۵ د الکرسي ایت (له تجوید سره تلاوت)

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَۚ اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۚ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ ؕ
لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ
عِنْدَهٗۤ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۚ
وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖۤ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ وَلَا يَئُوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴿۲۵۵﴾

**نهه دېرشم لوست:**

## د البقره سورت وروستني ایتونه (له تجوید سره تلاوت)

لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْٓ
اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ ؕ فَيَغْفِرُ لِمَنْ
يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۸۴﴾
اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ؕ
كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ ۚ لَا نُفَرِّقُ
بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ ۚ وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا غُفْرَانَكَ
رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ﴿۲۸۵﴾



(c) ketabton.com: The Digital Library

** څلوېښتم لوست:**

د البقره سورت وروستنی ایت (له تجوید سره تلاوت)

لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا
مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا اِنْ نَّسِيْنَا اَوْ اَخْطَاْنَا
رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ
مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ وَاعْفُ
عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا اَنْتَ مَوْلٰىنَا فَانْصُرْنَا
عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۸۶﴾

**یو څلوېښتم لوست:**

۱- د المطفِّفین له سورت څخه د کتاب تر پایه د مخکینیو لوستونو تکرارول.

۲- د یاد شوو سورتونو (الضحی، الانشراح، التین، القدر، الزلزلة، العادیات، القارعه، التکاثر، العصر، الهمزه، الفیل، قریش، الماعون، الکوثر، الکافرون، النصر، المسد، الاخلاص، الفلق، الناس او الفاتحه) اورېدل او تکرارول.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقاید

## لومړی لوست

**هدف:** د عقایدو د علم تعریف، موضوع او غرض پېژندنه چې د راتلونکو درسونو او معلوماتو لپاره اساس او بنیاد شي.

۱– آیا د عقایدو د علم تعریف، موضوع، غرض مو زده دي؟

۲– د اسلام د سپېڅلي دین احکام په څو ډوله تقسیم شوي دي؟

**د عقایدو د علم تعریف:** د عقایدو علم هغه علم دی چې له اسلامي اعتقادي احکامو څخه بحث کوي.

**موضوع:** د عقایدو د علم موضوع اسلامي معتقدات دي.

**غرض:** د اسلامي معتقداتو او د هغو د اړونده مسایلو پېژندل دي.

د اسلام د مبارک دین احکام په درې ډوله تقسیم شوي دي.

**الف** : اعتقادي احکام

**ب** : عملي احکام

ج: اخلاقي احکام

**الف:** اعتقادي احکام: اعتقادي احکام هغه احکام دي چې په هغوی باندې عقیده لرل لازم او حتمي وي او پخپله عملي اړخ نه لري بلکې د دیني احکامو اساس او بنیاد ګڼل کیږي، او تر څو چې په هغو عقیده ونه لرو، حق یې ونه ګڼو، زمونږ اسلامي اعمال د الله تعالی په وړاندې نه قبلیږي اودا ډول احکام د معتقداتو په نامه سره یادیږي.

**ب: عملی احکام:** هغه احکام دي چې په هغو باندې د عقیدې لرلو سربیره د هغو عملي کول هم لازم او حتمي دي لکه د لمانځه ادا کول، روژه نیول او داسې نور.

**ج:اخلاقي احکام:** اخلاق په انساني نفس کې هغه فطري قوه ده چې په ډېره آسانۍ سره ښه یا بد عملونه ورڅخه صادریږي .

**د زده کوونکو هڅونې:**

❖ زده کوونکي دې د درس متن له ځانه سره ولولي.

❖ د درس د محتوی په هکله دې سوال اوځواب وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**دویم لوست**

# د عقیدې اصول

**هدف:** د اسلامي متعقداتو د اصولو پیژندنه.

**عقیده** په لغت کې له عقدڅخه اخېستل شوې ده او عقد د تړلو په معنا دی.

د علماوو په اصطلاح کې عقیده په هغو امورو باندې دزړه تړل دي چې د شک، وهم او تخیل ځای په کې نه وي لکه: چې وایو ۲+ ۲= ۴.

په شرعي اصطلاح کې د هغو امورو قبلولو او وربانديې یقین لرلو ته عقیده وایي چې د هغې په اثبات باندې یقیني دلیلونه موجود وي او انساني عقل هم هغه وهم او تخیل نه شي ګڼلی او د شک ځای په کې وجود ونه لري، دغه امور په لاندې ډول دي.

۱– دالله تعالی په وجود او یووالي باندې عقیده لرل.

۲– د ملائکو په وجود باندې عقیده لرل.

۳– د انسان د هدایت لپاره د اسماني کتابونو په نزول باندې عقیده لرل.

۴– د انسان د هدایت لپاره د انبیاؤ (علیهم السلام) په رالیږلو باندې عقیده لرل.

۵– د آخرت په ورځ باندې عقیده لرل.

٦– عقیده لرل چې د خیر او شر اندازه د الله تعالی لخواده.

۷– په بعث (له مرګ څخه وروسته ژوند) باندې عقیده لرل.

پورتني اموردد اسلام د مبارک دین او ټولو اسماني ادیانو اعتقادي اصول دي اسماني کتابونو او صحیفو وخت په وخت دغه امور د دین اصول او بنسټونه ګڼلي دي او بشریت ته یې تعلیم او لارښوونه کړې ده. بشر هم له هغه وخت څخه چې په ځمکه کې یې ژوند پیل کړی دی د دغو اصولو په برخه کې تحقیق کړی دی، او ډول ډول یقیني دلیلونه یې د علم په رڼا کې له کائناتو څخه وربانديې راوړي دي اود همدې دلایلو په رڼا کې ذکرشوي اصول د یقین مرحلې ته رسیدلي دي نولازمه ده چې عقیده پرې ولرو او حق یې وګڼو.

**د زده کوونکو هڅونه:**

زده کوونکي دې د عقیدې د اصولو په هکله یو له بل سره خبرې وکړي.

**ارزونه:** آیا زده کوونکي د عقیدې د اصولو په هکله پوهیدلي دي؟

ښاغلی ښوونکی دې په لنډه توګه په معتقداتو پوره رڼا واچوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

دریيم لوست

# د الله تعالی په وجود او وحدانيت ايمان

**هدف:** د الله تعالی د وجود او يووالي پيژندل.

پوهيږو چې په الله تعالی باندې ايمان لرل په حقيقت کې په ټولو اسلامی معتقداتو باندې ايمان لرل دي. د الله تعالی د وجود او وحدانيت په باره کې ډېرفطري، عقلي او نقلي دليلونه شته چې هر يويې د انسان د يقين سبب ګرځي د هغو له جملې څخه د انسان په وجود کې روښانه دليلونه موجود دي چې مونږ د الله تعالی په وجود باندې مؤمن او معتقد کوي مثلا: که چېرې د انسان په خلقت (پيدايښت) او په دې کې چې څرنګه يو نسل د بل نسل څخه پيدا کيږي فکر وکړو نو يقين کوو چې يو عالم او قدرت لرونکی ذات موجود دی چې مونږ يې پيدا کړي يو او د ژوند د دوام اسباب يې راته تيار کړي دي.

مثلا: انسان لومړی د اوبو د يوه (څاڅکي) څخه څه زيات شی نه وي چې دا څاڅکی په يوه مناسب ځای کې ځای نيسي بيا د وينې په ټوټه او وروسته په غوښه اوهډوکو بدليږي، بيا د انسان شکل غوره کوي او له ټاکلي وخت سره سم پيداکيږي.

د ماشومتوب مرحلې تيروي، د عقل او پوهې څښتن ګرځي او د خپل ژوند د چارو تدبيرکوي نو آيا د داسې دقيق نظام وجود چې د انسان د خلقت اود نسل د بقاء له پاره منځ ته راغلی دی د عالم ، توانا او قدير واجب الوجود ( الله تعالی ) له ذات څخه پرته د تصور وړدی؟ نه! هيڅ کله نه. نو لدې کبله مو فطرت او عقل هم حکم کوي چې په الله تعالی باندې معتقد شو.

**د زده کوونکو هڅونې:**

❖ په ګروپي ډول د عقيدې د لمړي اصل په باره کې خبرې وکړئ!

❖ د درس په هکله يو له بل څخه پوښتنې وکړئ!

**ارزونه:**

- زده کوونکو ته وظيفه ورکړئ چې هر يو د الله تعالی د وحدانيت په باره کې دليل وړاندې کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورم لوست

# د الله تعالی ثبوتي او سلبي صفتونه

**هدف:** د الله تعالی د ثبوتي او سلبي صفتونو له مفاهیمو سره آشنایي.

آیا د الله تعالي د ثبوتي او سلبي صفتونو سره آشنایي لرئ؟

د ثبوتي او سلبي صفتونو تر منځ څه فرق دی؟

په تېرو ټولګیو کې مو ویلي وو چې د الله تعالي ذات په کمالیه صفتونو موصوف دی او د الله تعالی صفتونه په ذاتي او فعلي صفتونو ویشل شوي دي اوس زیاتوو چې د الله تعالي صفتونه په ثبـــوتي او سلبي صفتونو هم تقسیم شوي دي.

### الف: ثبوتي صفتونه:

هغه صفتونه دي چې د مفاهیمو اثبات یې د الله تعالي ذات ته ازلاً او ابداً حتمـــي وي او هیڅ کله پرته له دغو صفتونو څخه د الله تعالی د ذات تصور نشي کیدلای لکـــه ذاتي صفتونه (حیات، قدرت، علم، اراده، سمع، بصر او کلام)؛ ځکه که چیري پرته له دغو صفتونو څخه د الله تعالی د ذات تصور وکړو معنی یې داده چې (العیاذ بالله) د الله تعالی ذات مو ناقص تصور کړی دی.

### ب: سلبي صفتونه:

هغه صفتونه دي چې د مفاهیمو نفې (سلب) یې د الله تعالی څخه حتمـــي وي او د الله تعالي ذات ازلاً او ابداً د داسې صفتونو څخه منزه او پاک دی ځکه پـــه الله تعـــالي خـــوب مرګ، مرض، او داسې نور سلبي صفات نه راځي او له دغو څخه کاملاً پاک او منزه دی.

**د زده کوونکو هڅوني:**

زده کوونکي دې د ازلي او ابدي صفتونو په هکله خبرې وکړي.

د الله تعالی د ثبوتي او سلبي صفتونو په هکله دې سوال او ځواب وکړي.

**ارزونې:**

- آیا د درس محتوی په لنډ ډول ویلی شئ؟
- د ثبوتي او سلبي صفتونو فرق وواياست؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

**پنځم لوست**

# د الله تعالی صفتونه ازلي او ابدي دي

**هدف:** د الله د صفتونو له قديموالي سره اشنايي.

دالله تعالی صفتونه ازلي او ابدي دي يعنې ابتدا او انتها نه لري ځکه که چېرې د الله تعالی صفتونه ازلي او ابدي نه شي نو معنا به يې دا وي چې الله تعالی يوه موده بې لــه کوم صفت څخه پاتې شوی دی، او وروسته نوی صفت الله تعالی ته ثابت شوی دی يا يو صفت له الله تعالی څخه زايل کيدای شي او بل ورته نوی پيدا کيدای شــي، پــه دواړو صورتونو کې الله تعالی د صفت له حدوث څخه مخکې يا يې له زوا ل څخــه وروســته (العياذبالله) ناقص تصورکېږي او د الله تعالی په ذات کې نقصان محال ( ناممکن ) دی.

بناءً بايد عقيده ولرو چې د الله تعالی ټول صفتونه قديم ، ازلــي او ابــدي دي او هيڅ کله الله تعالی ته نوی صفت نه دی حادث شوی او نه له الله تعالی څخه دکوم صفت د زوال امکان شته لکه چې د الله تعالی ذات قديم (ازلي او ابدي) دی صفتونه يې هم قــديم دي.

**د زده کوونکو هڅوني:**

- زده کوونکي دې د ازلي او ابدي د مفهوم په هکله يو له بل سره خبرې وکړي.
- دقديم، ازلي او ابدي په هکله دې يوله بل څخه پوښتنې وکړي اوځوابونو ته دې فکر وکړي.

**ارزونې:**

- د ازلي او ابدي مفهوم څه دی؟
- آيا د درس په محتوی پوه شوي یاست؟

---

**ښاغلی ښوونکی** دې درس په ډيره ساده ژبه بيان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم لوست

# الله تعالی مطلق مختار دی

**هدف:** د الله تعالی له تام اختیار سره اشنايي.

د الله تعالی اراده، اختیار او قدرت مطلق دي یعني الله تعالی هر عمل په بشپړ قدرت، ارادې او اختیار سره عملي کوي او هیڅوک د ده د قدرت، اختیار او ارادې په وړاندې نه شي ودریدلای او نه یې مانع کیدای شي ځکه الله تعالی بې نیازه ذات دی او د ټول مخلوق حقیقي مالک دی په خپل مخلوق کې هر ډول تصرف کوي، هیڅ ډول اعتراض ورته متوجه کیدای نه شي. هغه حقیقي معبود دی او د دې لایق دی چې خپل بنده ګان د دوی په عملونو باندې مکافات او مجازات کړي.

هو! د الوهیت مفهوم هم دادی چې یوازې او یوازې دغه مقتدر او بې نیازه ذات د هر ډول عبادت، ثنا او ستاینې حق لري بل هیڅوک یې نه لري.

**د زده کوونکو هڅونې:**

- ❖ د الله تعالی د تام اختیار په هکله څو مثالونه بیان کړئ!
- ❖ د الله تعالی د تامې ارادې په هکله یو له بل سره مباحثه وکړئ!

**ارزونه:**

- زده کوونکي دې د درس محتوی په خپلو ژبوسره ووایي.

---

**ښاغلی ښوونکی!**

د هدف د ښوونې څخه وروسته زده کوونکو ته د انفرادي مطالعې تو صیه وکړي او د موضوع په هکله دې ارزښتناکې پوښتنې طرحه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اووم لوست**

## بنده فاعل مختار دی

**هدف:** د بنده له اختيار لرلو سره اشنايي.
د بنده د اختيار په هکله څه معلومات لرئ؟

بنده په خپل عمل يعني د خير او شر په کولو کې اختيار لري او په خپل عقل سره د خير او شر تمييز کولای شي ځکه چې الله تعالی د تمييز توان ورکړی چې د خير لارې ولټوي يا دا چې د شر په لاره ګام اوچت کړي. مثلا: انسان کولای شي غلا وکړي او يا دا کار په خپل اختيار پريږدي د شرعي احکامو او عقل له لارې يې هم په دې پوه کړی دی چې د الهي احکامو پيروي او د ښوکارونو کول د انسان د دنيا او آخرت د نجات سبب ګرځي، اود الله تعالی نافرماني، يعني بد عملونه کول د انسان د دنيا او آخرت د بدبختۍ سبب کيږي که چيرې انسان د بدوکارونو لاره غوره کړي مجازات ورکول کيږي، که د توحيد او ښو عملونو لاره غوره کړي د الله تعالی لخوا د اجر او ثواب مستحق ګڼل کيږي.

**د زده کوونکو هڅوني:**

- ❖ زده کوونکي دې د ښوونکي له شرحې څخه وروسته يو ځل دا درس په فردي ډول سره مطالعه کړي.
- ❖ د بنده داختيار په هکله دې يوله بل څخه پو ښتنې وکړي.

**ارزونه:**

زده کوونکو ته وخت ورکړئ چې د بنده د اختيار په هکله په خپله مثالونه څرګندکړي.

آتم لوست

# د بشريت اړتيا پيغمبرانو ته

**هدف:** پيغمبر ته د انسان د اړتيا په هکله معلومات ترلاسه کول

ځوک کولای شي چې پيغمبر ته د انسانانو د ضرورت لرلو په هکله خبرې وکړي؟

پوهيږو چې رسول هغه شخص ته وايي چې د الله تعالی له خوا د بشر لارښوونې له پاره را استول شوی وي په انبيا ؤ(عليهم السلام) د ايمان، او د هغوی د صفتونو په هکله مو په تيرو ټولګيو کې يو څه معلومات ترلاسه کړي دي اوس په دې برخه کې چې د انبياؤ(عليهم السلام) را ليږنې ته څه ضرورت دی معلومات تر لاسه کوو:

منل شوې ده چې انسان د خپلې عقيدې د اصلاح لپاره داسې شخص ته ضرورت لري چې هغه ته د توحيد، او خپل خالق د پيژندنې لارې وروښيي او دا هم ښکاره ده چې کوم وخت انسان د خپل پروردګار په هکله معلومات ندي ترلاسه کړي عقيده يې د انحراف سره مخامخ شوې ده، د بتانو او قبرونو او داسې نورو طبعي شيانو او مخلوقاتو لمانځنه او عبادت يې غوره کړی دی. او دا چې د انسان ژوند ټولنيز دی، ټولنيز ژوند خامخا د يوه قانون غوښتونکی دی چې د هغه په وړانګو کې د خير لارې ولټول شي او د شر او فساد ځخه په امان پاتې شي دا رنګه قانون پرته له دې چې د الله تعالی لخوا د پيغمبر په وسيله انسان ته ورسيږي او تعليم شي دتصور وړ نه دی.

لنډه دا چې په الله تعالی باندې دايمان لرلو لارې د خپل نفس، کورنۍ په هکله مکلفيتونه يا په بل عبارت توحيد، خدای پيژندنه، فردي او اجتماعي مکلفيتونه دا ټول انسان ته د الله تعالی لخوا دانبياؤ (عليهم السلام) په و سيله رسيد لي دي.

**د زده کوونکو هڅوني:**

❖ زده کوونکي دې د پيغمبرانود دندو په اړه فکر وکړي او بيا دې هر ګروپ په خپله ژبه بيان کړي.

❖ د درس د محتوی په هکله دې پوښتنې وکړي.

**ارزونه:**

- آيا زده کوونکي د درس حاصل ويلای شي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست

## د انبیاؤ (علیهم السلام) عصمت

**هدف:** د انبیاؤ (علیهم السلام) له ځانګړتیاوو سره اشنایي.

نبي (پیغمبر) لکه چې له نامه څخه یې معلومیږي هغه شخص دی چې د الله تعالی پیغام د هغه بنده ګانوته رسوي، الله تعالی دا مهمه دنده هغو کسانو ته سپارلې ده چې ټولو خلکو ته بې له توپیر څخه ربښتوني امانت لرونکي وو ، له وړو او لویو ګناهونو څخه پاک او معصوم وو، هیڅ کله یې درواغ نه دي ویلي ، د چا په مال یې تېری نه دی کړی د خپلې دندې د اداءکولو په مقابل کې یې اجوره نه ده اخیستې او د هیڅ ظالم په مقابل کې یې د تسلیمۍ سر نه دی ټیټ کړی.

په دې هم باید پوه شو، چې انبیاء (علیهم السلام) لکه نور انسانان د ټولو طبیعي او بشري اړتیاو لکه خوړلو، څښلو او خوب کولو څخه ګټه اخیستله ځکه دوی هم انسانان وو د پیغمبرانو علیهم السلام ستره او اساسي دنده انسانانو ته د نېکیو په لوري بلنه او له بدیو څخه منع کول و.

**د زده کوونکو هڅوني:**

- ❖ زده کوونکي دې د درس متن له ځانه سره مطالعه کړي.
- ❖ زده کوونکي دې دانبیاوو (علیهم السلام) په ځانګړتیاوو اوصفتونوکې مباحثه وکړي.

**ارزونه:**

انبیاء(علیهم السلام) څه صفتونه لري؟

---

ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکو ته تو ضیح کړي چې پیغمبران انسانان دي او په دې عقیده لرو چې انسانانو ته د بشر له نوعې څخه انبیاء را استول شوي دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**لسم لوست**

# محمد صلی الله علیه وسلم

**هدف:** د محمد (صلي الله عليه وسلم) په رسالت باندې د ايمان له طريقې سره اشنا يي.
آيا د خاتم الانبياء د عبارت له معنا، او مفهوم سره اشنايي لرئ؟

ايمان او عقيده لرو چې محمد ﷺ د الله تعالی بنده او د انبياوو(عليهم السلام) د لړۍ تر ټولو وروستی نبي دی، د محمد (صلي الله عليه وسلم) له بعثت (را ليږنې) څخه وروسته بل پيغمبر نه دی را لېږل شوی او نه رالېږل کيږي او د محمد(صلي الله عليه وسلم) نبوت د قيامت تر راتلو پورې دوام لري. عيسی (عليه السلام) به هم چې قيامت ته په نږدې زمانه کې ځمکې ته راښکته کېږي د اسلام له داعيانو څخه وي او د رسول الله (صلي الله عليه وسلم) ديوه امتي په څېر به دعوت کوي.

عقيده لرو چې د اسلام روښانه دين د ټولو اسماني اديانو څخه کامل دين دی اود دې دين د لمر په راختلو سره ټول اسماني شريعتونه منسوخ شوي دي او دا دين د انسان له پاره د دنيا او آخرت دنيک بختۍ ضامن دی او پيروي ورڅخه د قيامت تر راتلو پورې دانسان په ذمه باندې د الله تعالی لخوا ايښودل شوې ده.

**د زده کوونکو هڅوني:**

- ❖ د خاتم الأنبياء د عبارت په معنا کې فکر او خبرې وکړئ!
- ❖ د درس په موضوع کې يو له بل څخه پو ښتنې وکړئ!

**ارزونه:**

خاتم الأنبياء څه معنی لري؟

---

ښاغلی ښوونکی دې په دې هکله پوره معلومات وړاندې کړي.
نوټ: زمونږ عقيده ده چې عيسی (عليه السلام) قيامت ته په نږدې زمانه کې ځمکې تـــه را ښـــکته کيږي او د اسلام لپاره به د محمد(صلي الله عليه وسلم) د يوه امتي په څېر دعوت چلوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

يوولسم لوست

## قرآن عظيم الشان

**هدف:** د قرآن عظيم الشان په باره كې كره او لنډ معلومات تر لاسه كول او په رڼا كې يې د سمې عقيدې زده كړه.

د قرآنكريم په هكله چې څه معلومات لرئ هغه ووایاست ؟

عقيده لرو چې قرآن كريم د اسماني كتابونو تر ټولو وروستنى كتاب دى، چې په لنډه توګه د ټولو اسماني كتابونو احكام، د علومو مبادي او ټول هغه څه چې انساني ژوند ورته تر قيامته پورې اړتيا لري په كې موجود دي، نو هر هغه څه چې په قرآن كريم كې راغلي دي حق دي. په معتقداتوكې يې د الله تعالى د ذات، وحدانيت او د صفاتو ازلي او ابدي والى، د ملايكو او پېريانو وجود، د انبياؤ (عليهم السلام) د رسالت، د قيامت د ورځې د راتلو، د عملونو د محاسبې، جنت، دوزخ، شفاعت او داسې نورې لاربښوونې قطعي او يقيني دي او مونږ په هر يوه باندې په ايمان لرلو مكلف يو او له يوه اعتقادي امر څخه انكار كول په حقيقت كې له ټولو اعتقا دي امورو څخه انكار كول دي.

قرآنكريم مونږ ته احكام راوړي، چې ځينې امور يې حلال او ځينې نوريې حرام ګڼلي دي. د حلالو حرام ګڼل او د حرامو حلال ګڼل هم له قرآنكريم څخه انكار بلل كيږي، او له احكامو څخه يې سرغړونه ګناه ده دا كتاب (قرآنكريم) له هر ډول تحريف څخه محفوظ دى او د نزول له وخت څخه تراوسه پورې زيات علماء د قرآن د مطالبو او مفاهيمو په زده كړه او څېړنه بوخت دي، اود اداء طرز، حركات،كلمې، او جملې، يې داسې ساتل شوي دي چې هيڅ ډول تحريف او تغيير نه دى په كې راغلى.

**د زده كوونكو هڅوني:**

زده كوونكي دې د ښوونكي له شرحې وروسته دوه دوه تنه په خپلو منځونو كې خبرې وكړي.

زده كوونكي دې په ډلو و ويشل شي اود درس د محتوى په باره كې دې خبرې وكړي.

**ارزونه:**

- قرآنكريم څرنګه كتاب دى په دې هكله پوره معلومات ور كړئ!

**ښاغلى ښوونكى!** درس دسوال او ځواب په ډول سره توضيح كړئ او نتيجه ورڅخه واخلئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې

۱– اسلامي احکام په څو ډوله دي؟

۲– د اعتقادي اصولو نومونه واخلئ!

۳– عملي احکام توضيح کړئ!

۴– د الله تعالی د وجود او وحدانيت دليل بيان کړئ!

۵– د الله تعالی ثبوتي او سلبي صفتونه بيان کړئ!

٦– د الله تعالی د صفتونو د ازلي او ابدي توب په باره کې پوره توضيح ورکړئ!

۷– الله تعالی مطلق مختار دی. په دی هکله معلومات وليکئ!

۸–د بنده د اختيار په هکله معلومات وليکئ!

۹– پيغمبر ته د بشريت د ضرورت په هکله مو چې څه زده وي ويې ليکئ!

۱۰– د انبياء(عليهم السلام) په هکله چې له ګناه څخه معصوم دي. خپل معلومات وليکئ!

۱۱– د خاتم الأنبياء مفهوم بيان کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دويم فصل فقه

## لومړۍ برخه

**دولسم لوست**

# د زکات احکام

**هدف:** د فقهې د تعریف زده کړه.

پوهيږو چې قرآنکريم د الله تعالی کلام او حديث د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) قول، فعل او تقرير( د يو کار ليدل او پرې چوپ پاتې کيدل) دي. له قرآنکريم او نبوي احاديثو څخه د شرعي حکم اخيستنه د مجتهدينو دنده ده مجتهدينو ته فقهاء وايي نو د فقهې علم هغه علم دی چې له شرعي احکامو څخه بحث کوي کوم چې له قرآنکريم او نبوي احاديثو څخه استنباط شوي وي يا په بل عبارت هغه علم دی چې له فرایضو، واجباتو، سنتو، حلالو، حرامو، حقوقو او ادابو څخه بحث کوي بناءً د فقهې علم د خپل ځان،خالق، کورنۍ ، ټولنې په وړاندې زمونږ حقوق او دندې ټاکلې او د عباداتو احکام يې راته بيان کړي دي. په تيرو ټولګيو کې مو د اوداسه ، لمانځه او روژې احکام زده کړي دي. اوس غواړو د زکات او حج احکام چې هر يو د اسلام له پنځو بناګانوڅخه دي په لنډه توګه زده اوله ګټو سره يې اشنا شو.

**د زده کوونکو هڅونې:**

❖ زده کوونکي دې د فقهې د تعریف په هکله مباحثه وکړي.

**ارزونه:**

- ايا زده کوونکو د فقهې مفهوم زده کړی دی او سم يې بيانولی شي؟

---

**ښاغلی ښوونکی!**

د دې درس محتوی پوره شرح کړئ!

**دیارلسم لوست**

# زکات

**هدف:** د زکات له تعریف او ګټو سره اشنايي.

زکات څه معنی لري؟

**تعریف:** زکات په لغت کې د پاکۍ په معنا دی.

او په شریعت کې: دټا کلي مال (نصاب) څخه ټاکليو اشخاصو ته د نیت دلرلو سره د مال يوې ټاکلې برخې ورکولو ته زکات وايي. زکات د اسلام د پنځو بنا ووڅخه یوه بنا ده اود شرطونو دموجود یت په وخت کې پر مسلمان باندې فرض کیږي.

زکات د قرآنکریم په آیاتونو او نبوي احادیثو سره فرض شوی دی په چا چې فرض وي نو د هغه په نه اداء کولو ګنهګار او له فرضیت څخه يې منکر کافر دی.

زکات سربیره پردې چې د الله تعالی د امر پر ځای کول دي لاندې ګټې هم لري :

١. د فقیرانو اړتیاوې رفع کوي.

٢. د اسلامي وروروليۍ اړیکې پیاوړې کوي.

٣. له اړو کسانو څخه دنا امیدۍ احساس لرې کوي.

٤. د فساد، غلا او د بل په مال د تجاوز مخ نیوی کوي.

٥. په مال کې خیر او برکت پیدا کوي.

٦. د آخرت اجر او ثواب يې هم لويه ګټه ده.

٧. کومه شبهه چې د مال د لاس ته راوړلو په وخت کې په مال کې پیدا شوي وي له منځه وړي.

**د زده کوونکو هڅوني:**

- ❖ زده کوونکي دې د زکات د تعریف په باره کې خبرې اترې وکړي.
- ❖ د زکات ګټې دې یو له بل څخه وپوښتي.

**ارزوني:**

- د زکات ګټې یوه یوه ووایئ!
- آیا زده کوونکو د زکات لغوي او اصطلاحي تعریف زده کړی دی؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زکات د فرضیت شرطونه

**هدف:** د زکات د فرضیت د شرطونو پېژندنه.

آیا زکات په هر مسلمان باندې فرض دی؟

زکات د لاندې شرطونو د موجودیت په وخت کې په مسلمان باندې فرض کیږي:

۱- اسلام ۲- عقل ۳- بلوغ ۴- حریت (ازادي) ۵- نصاب ۶- د مالک په کامل ملکیت کې په مال پوره یو قمري کال تیریدل ۷- مال یې له ضروري اړتیاؤ څخه زیات وي اوپوروروباندې نه وي.

۸_ په دې موده کې د مال څخه د ګټې اخیستلو امکان.

د پورتنیو شرطونو په پام کې نیولو سره زکات په کافر، لیوني واړه هلک او غلام باندی نه فرض کیږي او هم په هغه چا چې د نصاب مالک نه وي فرض نه دی او هم په هغه مال کې چې پوره یو کال د مالک په ملکیت کې نه ويورباندې تیر شوی. یا دا چې نفع (ګټه اخیستل) ورڅخه متصوره نه وي؛ زکات نه فرض کېږي. هغه څوک چې زکاتورباندې فرض وي لازمه ده چې د زکات د اداء کولو په وخت کې د زکات د ورکولو نیت وکړي او هغه څوک چې زکات اخلي لازمه نه ده چې په دې پوه وي چې د زکات مال ورته ورکول کیږي.

**د زده کوونکو هڅوني:**

- ❖ زده کوونکي دې د زکات د فرضیت دشرطونو په هکله خبرې وکړي.
- ❖ زده کوونکي دې وروسته د ښوونکي د توضیح څخه درس په پټه خوله سره مطالعه کړي او په خلاصه توګه دې یو بل ته ووایي.

**ارزونه:** زده کوونکي دې د زکات د فرضیت د شرطونو نومونه واخلي.

---

ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکو ته په ګوته کړي چې زکات په هغه مال کې فرض دی چې د ګټې تصور ورڅخه کېږي که څه هم فعلاً ور باندې کومه ګټه مرتبه نه وي بناءً په غصب شوي اوبندساتل شوي مال کې چې کله د اصل مالک لاس ته راشي د تېرې مودې زکات پرې نشته.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم لوست

# د زکات نصاب

**هدف:** د زکات د نصاب مفهوم او د سپینو زرو د نصاب پیژندنه.

نصاب یعنی څه؟

د زکات نصاب هغه معینې اندازې مال ته وایي چې شریعت د زکات د فرضیت لپاره ټاکلی دی نو کله چې مالونه د نوعیت (جنس) په لحاظ متفاوت دي د زکات د فرضیت نصاب یې هم متفاوت دی.

د سپینو زرو نصاب:

د سپینوزرو د نصاب اندازه دوه سوه درهمه ده چې د وزن په لحاظ یوسل اوڅلویښت (۱۴۰) مثقاله چې د (۵۹۴) ګرامه سره مساوي دی کیږي یعنې کله چې یو شخص دوه سوه شرعي درهم چې وزن یې یو سل او څلویشت مثقاله چې د (۵۹۴) ګرامه سره مساوي دی ولري او یو کال دده په ملکیت کې وربانديې تیر شي په هغه کې پنځه درهمه یا د هغه قیمت زکات ورکول کیږي او له پورتني نصاب څخه په لږو سپینوزرو کې زکات نشته. کله چې سپین زر له دوه سوه درهمو څخه زیات شي د هروڅلوېښتو درهمو څخه یو درهم زکات لازم دی. د مثال په توګه: له دوه سوه درهمو څخه پنځه درهمه له دوه سوه او څلویښت درهمو څخه شپږ درهمه زکات ورکول کیږي.

**د زده کوونکو هڅوني:**

❖ زده کوونکي دې په فردي او ګروپي توګه د سپینوزرو د نصاب په باره کې خبرې وکړي.

❖ د درس دمحتوی په هکله دې یوله بل څخه پو ښتنې وکړي.

❖ درس دې په پټه خوله سره مطالعه کړي.

**ارزونه:**

ایا د نصاب مفهوم مو پیژندلی دی؟ ۲ د نقری (سپینو زرو )د نصاب اندازه څومره ده؟

---

**نوټ:** لس شرعي روپۍ مساوي دي له اوو مثقالو سره او دوه سوه شرعي روپۍ مساوي دي د یو سل او څلویښت مثقالو سره.

شپاړسم لوست

## د سرو زرو د زکات نصاب

**هدف:** د سرو زرو د زکات له نصاب سره اشنايي.

د سروزرو د زکات نصاب شل ( ۲۰) مثقاله سره زر دي چې د ( ۸۵) گرامو سره مساوي دي. يعنى كه سره زر له شلو مثقالو څخه چې ( ۸۵) گرامه كيږي كم وي زكات په كې فرض نه دی، اوپه شل مثقاله سرو زرو كې چې يو كال د مالک په ملكيت كې ورباندې تيرشي نيم مثقال( ۲،۱۲۵) گرامه سره زر يا د هغه قيمت زكات دی كله چې سره زر له شلو مثقالو زيات شي په هرو څلورو (۴) مثقالونو كې دوه قراطه(۱) (۰،۴۲۵۰) گرامه سره زر زكات دی كه چېرې يو شخص سره زر او سپين زر دواړه ولري ولې يو يې هم په يواځې توگه نصاب ته نه رسيږي بايد دواړه قيمت شي دسرو زرو او سپينو زرو هر يو نصاب يې چې پوره كاوه له هغه نصاب څخه د زكات وركړي.

**د زده كوونكو هڅوني:**

❖ زده كوونكي دې د سرو زرو د نصاب په هكله خبرې وكړي.

❖ د ګډ نصاب په هكله مباحثه وكړئ!

**ارزوني:**

- د سروزرو د نصاب اندازه ووايئ!
- ګډ نصاب يعني څه؟

---

ښاغلی ښوونكی دې د ګډ نصاب په هكله پوره معلومات وركړي.

۱ـ يو مثقال د ( ۴،۲۵) گرامو څخه عبارت دی، او يو مثقال (۲۰) شل قراطه دی. او يـو قـراط (۰،۲۱۲۵) گرامه كيږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**اووه لسم لوست**

# د نغدو پیسو او تجارتي مالونو زکات

**هدف:** د تجارتي مالونو او نغدو پیسو د نصاب پیژندنه.

د تجارتي مالونو نصاب : په تجارتي مالونو کې چې قیمت یې د سرو یا سپینو زرو د نصاب سره برابر وي زکات فرض دی، همداراز که یو شخص سره زر،سپین زر او تجارتي مالونه ولري او د درې واړو قیمت د سرو یاسپینو زرو نصاب ته ورسیږي زکات په کې فرض دی که چیرې د تجارتي مالونو نصاب د کال په اول او اخر کې تکمیل وي ولې د کال په نیمایي کې د نصاب څخه لږ وي د کال اخر ته اعتبارورکول کیږي.

د نغدو پیسو نصاب : په مروجو نغدو پیسوکې چې د سرو یا سپینو زرو نصاب ته رسیدلې وي زکات فرض دی، نغدې پیسې هم د سرو او سپینوزرو سره جمع کېږي که چېرې یې د سرو او سپینو زرو نصاب پوره کاوه زکات په کې فرض دی.

د سروزرو، سپینوزرو او تجارتي مالونو په زکات ورکولو کې د مروجو پیسو ورکول جواز لري.

**د زده کوونکو هڅونې:**

- ❖ زده کوونکي دې د درس متن په پټه خوله سره مطالعه کړي.
- ❖ د درس مطلب دې په خپله ژبه سره ووایي.

**ارزونه:**

د تجارتي مالونو د زکات حکم بیان کړئ؟

---

**نوټ:** د کور په وسایلو کې که څه هم د نصاب نه زیات وي زکات نشته.



(c) ketabton.com: The Digital Library

اتلسم لوست

# د څارویو د زکات لومړنی نصاب

**هدف:** د څارویو(حیواناتو) د زکات د نصاب سره اشنایي.

د څارویو (حیواناتو) له جملې څخه یواځې په څلور (۴) ډوله څارویو کې چې د کال زیاته برخه په صحرا کې وڅري او ټاکلي نصاب ته ورسیږي زکات په لاندې ډول فرض دی:

۱– د اوښانو نصاب پنځه (۵) څرنده اوښان دي چې زکات یې یو پسه یا د هغه قیمت دی. له پنځو څخه په کمو او ښانو کې زکات نشته.

۲– په دیرشو(۳۰)څرنده غوایانو او مېښو کې زکات یو کلن خوسی یا د هغه قیمت دی او له هغه څخه په کمو کې زکات نشته.

۳– په څلویښتو(۴۰) څرنده پسونو کې زکات یو پسه یا د هغه قیمت دی که تر څلویښتو لږ وي زکات نه لري.

آسونه خاص نصاب نه لري بلکې هغه آسونه چې په صحرا کې څري نو څښتن یې اختیار لري چې د هر آس څخه یو دینار ورکړي یا دا چې ټول آسونه قیمت کړي او له هرو دووسو(۲۰۰) درهمو څخه پنځه(۵) درهمه زکات ورکړي.

**د زده کوونکو هڅوني:**

- ❖ د حیواناتو د نصاب په برخه کې یوله بل سره خبر ې وکړئ!
- ❖ د استاد له تشریح څخه وروسته درس یو ځل له ځان سره مطالعه کړئ!

**ارزوني:**

۱– د څارویو د زکات په باره کې څه معلومات لرئ؟

۲– د پسونو نصاب څومره دی؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم لوست

# د غلو، دانو او مېوو زكات

## عشر او نصف عشر

**هدف:** د ځمكې د حاصلاتو د زكات سره اشنايي.

د ځمكې حاصل دانې او ميوې ټاكلى نصاب نه لري همداراز د كال تيرېدل په كې شرط نه دي او په لاندې ډول سره يې زكات وركول كيږي:

۱–كه چيرې ځمكه د باران يا جاري اوبو لكه د ويالو او يا رودونو اوبو خړوبوله نو د ځمكې د حاصل زكات يې عشر (لسمه) برخه ده.

۲– كه چيرې ځمكه په ماشين، ارهټ او نورو داسې وسيلو چې د انسان يا څاروي تكليف غواړي اوبه كيږي؛ يا مصرف ته ضرورت لري په هغه كې نصف عشر (يو په شلو) كې زكات لازميږي.

په دې هم بايد پوه شئ چې د ځمكې د حاصلاتو په زكات كې د مالک عقل، او بلوغ شرط نه دى بلكې د صغير او ليوني څخه هم اخيستل كيږي كه چيرې د ځمكې څښتن مسلمان نه وي اسلامي دولت دنده لري چې د ځمكې په كافر څښتن باندې خراج كيږدي. خراج هغه ټاكلى حق دى چې اسلامي دولت يې د هغې ځمكې د حاصل څخه اخلي چې مالک يې مسلمان نه وي او اسلامي دولت داهم حق لري چې په هغو ځمكو چې څښتن يې نه كړي خراج وټاكي.

**د زده كوونكو هڅونې:**

- ❖ د درس په محتوى باندې د ګروپ په شكل بحث وكړئ!
- ❖ د درس د محتوى په هكله يو له بل څخه پو ښتنې وكړئ!

---

**ښاغلی ښوونکی!** زده كوونكي بايد پوه شي چې عشر او زكات عبادت دى او كافر د عبادت اهل نه دى بناءً د هغو كافرانو د ځمكو په حاصلاتو كې چې په اسلامي هيواد كې اوسېږي خراج يعني ماليه ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**شلم لوست**

# د زکات د مصرف ځایونه

**هدف:** د زکات د ورکولو د ځایونو پېژندنه.

د زکات مال په کومو ځایونوکې مصرفیږي؟

**د زکات مال په لاندې ځایونو کې مصرفیږي:**

**١. فقیران:** یعنې هغه کسان چې د هغوی ټول مال د هغوی له اصلي ضرورته پرته یوه نصاب ته هم نه رسیږي.

**٢. مساکین:** هغه خلک دي چې هیڅ شی نه لري ..

**٣. عاملین:** هغه اشخاص چې اسلامي دولت د زکات را ټولولو لپاره ټاکلي وي، او نورمعاش ونه لري.

**۴. مؤلفة القلوب:** هغه خلک دي چې له اسلام سره د دوي د مینې پیداکیدل مطلوب وي.

**۵. مریان:** (غلامان) هغه کسان دي چې دخپلې ازادۍ د لاس ته راوړلو لپاره مال ته ضرورت لري.

**٦. پوروړي** (قرضداران): هغه کسان دي چې لاس ته راوړنه یې د قرض څخه لږه وي او د قرض (پور) لپاره کوم مالي مدرک نه لري.

**٧. ابن سبیل:** هغه مسافر چې مال ونه لري اویا یې خپل مال ته لاس نه رسیږي .

**٨. في سبیل الله:** هغه خلک دي چې د الله په لاره کې دي لکه مجاهدین او یا د دیني علومو زده کوونکي چې مرستې ته اړتیا لري.

**د زده کوونکو هڅونې:**

❖ زده کوونکي دې لوست د ښوونکي له توضیح څخه وروسته په پټه خوله مطالعه کړي.

❖ زده کوونکي دې د لوست د محتوی په هکله خبرې وکړي.

**ارزونه:**

آیا زده کوونکو د زکات د مصرف ځایونه پېژندلي دي؟

---

ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکو ته وښايي چې اسلامي شریعت دولت ته حق ورکړی دی چې د خلکو څخه زکات را ټول کړي او په خپلو شرعي مواردو کې یې په مصرف ورسوي. د دولت له خوا چې د زکات د ټولولو له پاره کوم کسان ګمارل کېږي عاملین ورته وايي. همدارنګه زده کوونکو ته دا واضح کړئ چې د زکات په مال کې د اخیستونکي قبض (اخیستنه) لازمه ده نو د زکات له ماله د مړي لپاره کفن نه شي کولی؛ مسجد پرې نه شي جوړولی؛ او څاه پرې نه شي کیندلی.
همدا راز خپل پلار، زوی، نیکه، لمسي، خپل میړه، یا میرمنې ته د زکات ورکول روانه دي، او د غني شخص نابالغه اولاد او بني هاشمو ته هم د زکات ورکول جواز نه لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې

۱- زکات په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ!

۲- د زکات ګټې بیان کړئ!

۳- د زکات نصاب تعریف کړئ!

۴- د سرو او سپینوزرو د زکات د نصاب په هکله معلومات را کړئ!

۵- کله چې سره او سپین زر دواړه یو ځای یوه نصاب ته ورسیږي حکم یې څه دی؟

۶- د نغدو پیسو او تجارتي مالونو زکات څرنګه ادا کیږي معلومات راکړئ!

۷- د څارویو د زکات په هکله لنډ معلومات ولیکئ!

۸- د آسونو د زکات په هکله لنډ معلومات ولیکئ!

۹- د ځمکې د حاصل زکات د نورو مالونو سره څه توپیر لري بیان یې کړئ!

۱۰- د زکات د ورکولو مستحقې ډلې کومې دي نومونه یې واخلئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوویشتم لوست

### حج

**هدف:** د حج تعــریف او حکـــم پیژندنه.

### د حج تعریف:

حج په لغت کې د قصد کولو په معنا دی. او په اصطلاح کې دالله تعالی کور ( بیـــت الله الحرام) ته د ځانګړیو مناسکو د اداءکولولپاره په ټاکلی وخت کې قصد کولو ته حج وایي.

د حج حکم: حج داسلام دسپیڅلي دین پنځمه بنا ده. چې په ټول عمر کې یو ځـــل د هغه مسلمان په ذمه چې د کور د نفقې پرته بیت الله ته د تګ او را تګ تـــوان ولـــري فـــرض کېږي.

### دحج د فرضیت دلیلونه:

حج د قرآن عظیم الشان په آیتونو، نبوي احادیثو، د امت د علماوو په اجمـــاع سره فرض شوی. په هغه چا چې حج فرض شي او قصداً یې ترک کړي د لویې ګناه مرتکب ګڼل کیږي. همدارنګه پرته له عذر څخه یې ورروسته والی هم ګناه بلل شوې ده .

دا عبادت زیات ثواب لري لکه چې په یوه مبارک حدیث کې را غلي دي (څوک چې یواځې د الله تعالی د رضا لپاره حج وکړي، په هغه کې د جګړې او فسق مرتکب نه شي نو له حج څخه په راستنیدو به له ګناه څخه داسې پاک شي لکه په کومه ورځ چـــې دی له مور څخه زیږیدلی وي).

**د زده کوونکو هڅونې:**

- ❖ دحج د تعریف او حکم په هکله دې یو له بل سره مباحثه وکړي.
- ❖ د حج دثواب په هکله دې په فردي او ګروپي توګه خبرې وکړي.

---

ښاغلی ښوونکی دې دحج د مزایاوو په هکله زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوه ویشتم لوست**

# د حج شرطونه

**هدف:** د حج د شرطونو پیژندنه.

ایا د حج له شرطونو سره اشنایی لرئ؟

حج دوه ډوله شرطونه لري: د فرضیت شرطونه او د اداء شرطونه.

**الف**: د فرضیت شرطونه: هغه شرطونه دي چې د هغو له تحقق څخه پرته حج د مؤمن په ذمه نه فرض کیږي لکه : اسلام ، عقل، بلوغ ، حریت(ازادي )، مالي استطاعت(توان) ، د لارې امن ، له ښځې سره د صالح محرم موجود والی اوجوړوالی .

د پورتنیوشرطونو په پام کې نیولو سره حج په کافر، لیوني، ماشوم، غلام، فقیر او مسکین نه فرض کیږي.

**ب**: د اداء شرطونه:

د حج د اداء لپاره دوه شرطونه لازم دي.

١– وخت یعنی د حج د اداکولو وخت.

٢– احرام تړل.

**د زده کوونکو هڅوني:**

- ❖ زده کوونکي دې د حج دشرطونوپه هکله مذاکره وکړي.
- ❖ دحج د اداء د شرطونو په هکله دې په فردي او ګروپي توګه مباحثه وکړي.

**ارزونه:**

- زده کوونکي دې د حج د فرضیت دشرطونو نومونه واخلي او ودې وایي چې د فرضیت او د اداء شرطونه څه توپیر لري؟

**درویشتم لوست**

# د حج فرضونه او واجبات

**هدف:** د حج د فرضو او واجباتو پیژندنه.

آیا کولی شئ د حج د فرضونو نومونه واخلئ؟

په حج کې درې عملونه فرض دي:

۱– احرام تړل په تلبیه ویلو سره.
۲– په عرفات باندې دریدل (په ځانګړې وخت کې)
۳– د زیارت طواف ( افاضې طواف)

په دی باید پوه شئ چې احرام د حج له فرضي شرطونو څخه دی او په عرفات باندې وقوف(دریدل) د حج رکن دی او وخت یې د ذوالحجې د نهمې ورځې د لمر له زوال څخه د اختر د ورځې تر صبح صادق (ربښتیني سبا) پورې دی. او د زیارت طواف هم د حج رکن دی او وخت یې د اختر د ورځې له ربښتیني سبا څخه د اختر د دریمې ورځې تر پایه پورې دی.

د حج واجبات:

په حج کې واجب عملونه هغه دي چې په ترک کولو (نه کولو) سره یې د م (د څاروي حلا لول) په حاجي لا زمیږي او په لاندې ډول دي:

۱. له میقات ( معین ځای ) څخه د احرام تړل.
۲. د لمر تر لویدلو پورې په عرفات دریدل.
۳. په مزدلفه کې وقوف.
۴. د صفا او مروا په منځ کې سعې (منډه)کول.
۵. د جمرو ویشتل.
۶. سر خربیل یا ویښتان کمول.
۷. د وداع طواف کول. ۸_ قرباني ( د شکر دم) ۹_ د عرفې شپه په منیٰ کې تېرول.

**د زده کوونکو هڅوني:**

❖ زده کوونکي دې د حج د فرضونو په هکله مباحثه وکړي.
❖ د حج د ارکانو دې یو له بل څخه پو ښتنه وکړي.

**ارزونه:** آیا د حج فرضونه مو پیژندلي دي؟

ښاغلی ښوونکی دې د میقاتونو په باره کې زده کوونکو ته مفصل معلومات ورکړي او ورته ودې وایي چې میقاتونه هغه معین ځایونه دي چې د بیت الله په شاوخوا کې د احرام تړلو لــه پــاره پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) ښودلي دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلير ويشتم لوست

# احرام

**هدف:** د احرام له تعريف او ترتيب سره اشـــــنايـــــــي.

احرام څه شی دی؟
احرام د څه له پاره دی؟

**د حج يا عمرې نيت کولو ته احرام وايي**

**د احرام ترتيب:**

**احرام کوونکی بايد نوکان غوڅ اوله بدن څخه ځيني ويښتان لرې کړي .**

**١- غسل دې وکړي، که غسل ونه کړي اودس دې وکړي .**

**٢- دوه سپيني جامې (لنګ او څادر) د واغوندي نوې وي اوکه پريمينځل شوې خوچې ګنډل شوې نه وي .**

**٣- خوشبو يي دې استعمال کړي.**

**د دوه رکعته لمونځ د اداء کولو څخه وروسته که چيرې يوازې د حج اراده يې کړې وي داسې نيت دې وکړي: خدايه! (ما د حج د اداء کولو اراده کړې ده ته يې ما ته اسانه وګرځوې او له ما څخه يې قبول کړې)او ودې وايي: "لبيک بحج اللهم لبيک"**

**اوکه چيرې د حج او عمرې دواړو اراده يې کړې وې داسې نيت به کوي: يا الله! زه د حج او عمرې اراده لرم ما ته يې اسان کړې او دواړه له ما څخه قبول کړې. او ودې وايي: ((لبيک بحج وعمرة اللهم لبيک)).**

**او که چيرې يې يواځې د عمرې د ادا کولو اراده کړې وي داسې نيت دې وکړي:" خدايه! زه د عمرې د ادا کولو اراده لرم نو ماته يې اسانه کړې او له ماڅخه يې قبوله کړې، او ودې وايي:(لبيک بعمرة اللهم لبيک)**

**د زده کوونکو هڅونې:**
زده کوونکي دې د ښوونکي له توضيح وروسته د درس متن په پټه خوله مطالعه کړي.
د درس په محتوی کې دې يودبل سره خبرې وکړي.

**ارزونه:**

- ايا زده کوونکو احرام زده کړی دی؟

---

**ښاغلی ښوونکی !** درس د سوال او ځواب په توګه تکرار کړئ او نتيجه ورڅخه واخلئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځه ويشتم لوست

# تلبيه

**هدف:** د تلبيې په هکله معلومات او د هغې زده کول

له احرام او دوه رکعته لمونځ کولو څخه وروسته دې تلبيه ووايي د تلبيې په ويلو سره احرام تکميليږي نو بايد داحرام له ممنوعاتو څخه پرهيز وکړي.

تلبيه داده:

**لَبَّيکَ اللَّهُمَّ لَبَّيکَ لَبَّيکَ لَا شَرِيکَ لَکَ لَبَّيکَ إِنَّ الحَمدَ وَالنِّعمَةَ لَکَ وَالمُلکَ لَا شَرِيکَ لَکَ.**

اى الله! په عبادت ولاړيم تاته په عبادت ولاړيم تاته، نشته شريک تا لره په عبادت ولاړ يم تا ته ثنا او صفت تا لــره ده او نعمتونه ستا لخوا دي او پاچاهي له تاسره ده نشته هيڅ شريک تا لره. وروسته د تلبيی د ويلو دې په محمد صلى الله عليه وسلم باندې درود ووايي او وروسته له دې څخه دې په هره ناسته او ولاړه کې تلبيه وايي.

**د زده کوونکو هڅوني:**

- زده کوونکي دې د تلبيې کلمې بيلې بيلې ووايي.
- زده کوونکي دې د تلبيې د مفهوم په هکله يو له بل څخه پو ښتنې وکړي.

**ارزونه:**

- ايا کولی شئ د تلبيې محتوى په خلاصه ډول ووايئ؟

---

**ښاغلی ښوونکی!** په فعاليت کې د زده کوونکو سره مرسته وکړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ ویشتم لوست

## هغه عملونه چې په احرام کې جواز نلري

**هدف:** د هغو عملونو پېژندنه چې وروسته له احرام څخه يې کول روانه دي.

۱. د هغه عمل سرته رسول چې د شرعې له مخې ګناه وي.
۲. جنګ کول، او داسې کلمې په خوله راوړل چې د مخاطب د خپګان سبب کيږي.
۳. ښکار کول او ښکاري ته دښکار لار ښوونه کول.
۴. نارينه ته د ګنډل شويو جامو اغو ستل.
۵. د خوشبويي استعمالول.
٦. نارينه ته د سر پټول.
۷. د بوټو په پښو کول چې ښنګري پټ کړي .
۸. د ويښتانو غوڅول ياله بيخه ايستل.
۹. د نوکانو پرې کول.
۱۰. په خوشبويي سره د سر، ږيرې اوځان پرېمنځل.( غسل كول او د ځان مينځل د صابون له استعماله پرته روا دي).
۱۱. د رنګه جامواغوستل.
۱۲. جنسي مقاربت او هغه څه چې د مقاربت حكم لري.

**د زده کوونکو هڅوني:**

❖ زده کوونکي دې په پورتنيو شيانو کې مباحثه وکړي.
❖ د احرام حالت دې په ژبه بيان او بيا دې تمثيل کړي.

**ارزونه:**

- ايا كولى شئ په احرام کې د ناروا اعمالو نومونه واخلئ؟

---

**ښاغلی ښوونکی!** د احرام حالت زده کوونکو ته عملاً وښيئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووه ویشتم لوست

# د حج ډولونه

**هدف:** د حج د ډولونوسره آشنايي.

حج په څو ډوله دی؟

حج په درې ډوله دی:

**الف** : افراد حج. ب: تمتع حج. ج: قِران حج.

څوک چې حج کوي اختيار لري چه له دې درې ډوله حج څخه د يوه ډول حج نيت وکړي.

**الف_ افرادحج:** افراد د يواځې توب په معنا دی. افراد حج هغه دی چې حاجي يواځې د حج د اداءکولو احرام ( نيت) وکړي

**ب_ تمتع حج:** تمتع د ګټی اخيستنې په معنادی. اوتمتع حج هغه دی چې حاجي په بيل بيل احرام سره عمره او حج دواړه اداءکړي .

**ج: قِران حج:** قِران د يو ځای کولو (پيوستون) په معنا دی او قِران هغه حج دی چې حاجي د حج اوعمرې دواړو نيت په يوه احرام کې وکړي په دې صورت کې حاجي د عمرې له اداء کولو څخه وروسته ځان نه شي حلالولی پس څرنګه چې په دې حج کې تکليف زيات دی اجر يې هم خورا درونډ دی.

**د زده کوونکو هڅوني:**

- ❖ زده کوونکي دې د درس متن په پټه خوله مطالعه کړي.
- ❖ د درس په محتوی کې دې يو له بل څخه پو ښتنې وکړي.

**ارزونه:**

- حج په څو ډ وله دی او د تمتع او قِران حج څه توپيرلري ؟ بيان يی کړئ!

---

**ښاغلی ښوونکی!** دحج دوه ډولونه بيل بيل په ساده ژبه بيان کړئ!

اته ویشتم لوست

# عمره

**هدف:** د عمرې له احـــکامــو ســـــره اشـــــنايي.

عمره څه ډول عبادت دی د اداء طريقه يې څه ډول ده اوپه کوم ځای کې اداء کېږي؟

عمره هغه عبادت دی چې په بيت الله الحرام کې اداء کيږي او څلور مناسک لري.

١- احرام: احرام په عمره کې شر ط دی.

٢- طواف: طواف دعمرې رکن دی.

٣- د صفا اومروا تر منځ سعې کول واجب دي.

۴- وروسته له سعې څخه د سر خريل، يا لنډول هم واجب دي.

عمره په ټول عمر کې يوځل سنت ده، حتی د ځينو علماوو په نزد واجب ده. په دی بايد پوه شئ چې د عمرې احرام د حج د احرام په څيردی نو که له چا څخه د عمرې په احرام کې داسې عمل صادر شي چې د حج په احرام کې د ځاروي حلالول لازموي په عمره کې هم د دم (حلالې) د لازميدو موجب کيږي.

د حج او عمرې توپير دا دی چې حج په ټاکلي وخت کې ادا کيږي ولې عمره ټول کال اداء کيدای شي يوازې د عرفې او له عرفې څخه وروسته په نورو څلورو ورځو کې د عمرې ادا کول مکروه دي.

**د زده کوونکو هڅونې:**

- عمره څه رنګه عبادت دی په دې هکله دې خبرې وکړي.
- د عمرې د مناسکو په هکله په ګروپي ډول سره مباحثه وکړئ!

**ارزونه:**

- د عمرې ترتيب په خپله ژبه ووايئ!

---

**ښاغلی ښوونکيه!** دا درس په يو داسې مقدمې باندې چې د درس د مدخل حيثيت ولري پيل کړئ!

**نوټ:** عمره په لغت کې د ملاقات په معناده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه ویشتم لوست

# د ښځو لپاره دحج ځانګړي احکام

**هدف:** د حج د هغــــو احــکامــو پيژندنه چې په ښځينوو پــورې خاص دي.

د حج زيات احکام نارينه او ښځينه په يوه ډول سره اداءکوي ولې په ځينې ځايونوکې ښځينه احکام نسبت نارينه وو ته څه توپير لري چې په هغو کې د ښځې د طبعيت رعايت شوى دى او هغه دا دي:

١- ښځې ته دګنډل شويو جامو اغو ستل روا دي.

٢- ښځي ته لازمه ده چې په احرام کې خپل سرپټ کړي.

٣- په لوړ اواز سره بايد تلبيه ونه وايي.

۴- ښځې سرنه خريي بلکې يوازې د ويښتانو سرونه اخلي.

۵- په طواف کې د اوږو له خوځولو څخه ډډه کوي يوازې په صفا او مروا کې د سعې کولو په وخت کې شنو نښو ته لنډه په خپل تګ کې څه چټکتيا راولي.

**د زده کوونکو هڅوني:**

- ❖ د درس حاصل دې په خپلو ژبو سره ووايي.
- ❖ د درس دمحتوى په هکله دې خبرې وکړي.

**ارزونه:**

ايا زده کوونکي د درس په محتوى باندى پوه شوي دي؟

---

**ښاغلی ښوونکی!** د حج د احکامو د تدريس په وخت کې ستاسې پوره معلومات او مطالعه حتمي ده.

دېرشم لوست

# د نبوي مسجد زيارت

**هدف:** د نبوي مسجد ارزښت پيژندنه او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د قبر د زيارت كولو آداب زده كول.

مدينه منوره د رسول الله صلى الله عليه وسلم د هجرت كور دی، د مدينې منورې اوسيدونكي انصار او هلته ورغلي مسلمانان مهاجر بلل كيږي.

كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مدينې منورې ته مهاجر شو، له هر څه نه وړاندې يې مسجد آباد كړ چې په (مسجد النبوي) باندې ياديږي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم د مسجد النبوي، مدينې منورې او انصارو ډېر فضايل بيان كړي دي. په يو حديث كې هغه مبارک ويلي دي : زما په مسجد كې يو لمونځ له مسجد حرام پرته نورو مسجدونو كې لمانځه باندې زر برابره غوره دی .

د رسول الله صلى الله عليه وسلم قبر هم د مسجد النبوي په منځ كې راغلی دی .

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: زما د منبر او كور تر منځ ځای د جنت له باغچو څخه يوه باغچه ده .

د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د قبر تر څنګ د مسلمانانو د لومړي او دوهم خليفه ابوبكر صديق او عمرفاروق رضي الله عنهما قبرونه دي. د همدې له پاره مسلمانان مكې معظمې ته له رسيدو مخكې او يا كله چې په مكه معظمه كې د حج مراسم پای ته ورسوي د نبوي مسجد د زيارت له پاره مدينې منورې ته ځي. په نبوي مسجد كې له لمانځه وروسته د رسول الله صلى الله عليه وسلم ، ابوبكر صديق او عمر فاروق رضي الله عنهما قبرونو ته هم ځي او مسنون زيارت كوي.

پر دې برسيره په مدينه منوره كې د قباء مسجد، ذوالقبلتين مسجد، د احد غر، د خندق د غزا ځای او داسې نور تاريخي ځايونه هم شته ، چې په ليدو يې ايمانونه تازه كيږي.

د هر مسلمان په زړه كې مدينه منوره د مكې معظمې په څير ځای لري او تل يې ليدلو ته ليوا ل وي.

**د زده كوونكو هڅوني:**
زده كوونكي دې په مدينه منوره كې د اسلام د تاريخي ځايونو په اړه يو له بل څخه پوښتنې وكړي

**ارزونه:** د مسجد النبوي فضيلتونه ووایاست!

---

**يادونه:** كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفات شو نو د خپل كور د عايشې بي بي په كوټه كې خاورو ته وسپارل شو، بيا وروسته مسجد پراخه كړی شو او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم كور هم پكې راغی، نو اوسنی قبر د هغه مبارک پخوانی كور او د عايشې بي بي كوټه ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې

۱- حج تعریف کړئ!
۲- له حج څخه د انکار کونکي حکم بیان کړئ!
۳- د حج شرطونه تو ضیح کړئ!
۴- دحج واجبات بیان کړئ!
۵- دحج فرضونه بیان کړئ!
۶- احرام تعریف کړئ!
۷- داحرام څرنګوالی بیان کړئ!
۸- هغه عملونه چې په احرام کې جواز نه لري بیان کړئ!
۹- دحج ډولونه ووایئ!
۱۰- آیا په حج کې د ښځینه حاجیې لپاره خاص احکام شته بیان یې کړئ!
۱۱- د محمد (ص) د قبر زیارت کولو په هکله مو خپل معلومات ولیکئ!
۱۲- عمره تعریف کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

## دريم فصل

**يودېرشم لوست**

# اخلاق

**هدف:** زده کوونکي د اخلاقو په معنا پوهول او په دی هکله يو عام نظر ورکول.

اخلاق يعني څه؟ ښه خويونه کوم دي او بد خويونه څه ته وايي؟

په تيرو ټولګيو کې موځينې موضوعګانې د اخلاقو په هکله ولو ســـتلې دهغـــوی څخه مو د اسلامي سلوک(کړووړو) په باره کې څه معلومات لکه:(د سلام ادبونه ،د مور او پلار، ښوونکی، مشرانو، خپلوانو او ګاونډيانو حقونه، دروغتيا ارزښت، د بدو عادتونو څخه ځان ساتنه اوداسی نور تر لاسه کړل اوس غواړو لومړی د اخلاقو په هکله له يـــوه عام نظر سره اشنا شو تر څود نويو درسونو لپاره مو اساس او بنياد وګرځي او بيا ځينـــې اخلاقي موضوعګاني تر بحث لاندې و نيسو:

اخلاق يعنی څه؟

اخلاق: ( په انساني نفس کې هغه فطري (طبيعي) قوه ده چې په ډير ه اسانۍ سره ښه يا بد عملونه ورڅخه صادريږی) که ښه عملونه ورڅخه صادر شي د ښواخلاقو اوکه بد عملونه ورڅخه صادر شی د بد خوی په نامه يادېږي د محمد صلی الله عليه وسلم په يوه حديث کې ګناهونو ته ناوړه اخلاق ( بدخويونه) ويل شوي دي او ورڅخه معلـــومېږي چـــې د انسان په فطرت (طبعيت) کې دا توان شته چې ښه عملونه يا بد عملونه وکړي. اســـلامي شريعت داڅرګنده کړې ده چې د اسلامي فرايضو اداکول ، اوله ګنا هونو څخـــه ځـــان ساتل انسان په ښو خويونو عادت کوي.

همداراز له الله تعالی څخه ويره لرل د ښوخويونو اساس ګڼل شوی دی نو ديوه مسلمان غوره او ښه اخلاق دا دي چې د الله تعالی څخه ويره ولري، د هغه د احکامو پيروي وکړي او له ګنا هونو څخه ځان و ساتي. ځکه کوم مسلمان چې د الله تعالی د فرايضو په اداکولو، له ګناهونو څخه په ځان ساتنه بريالی شي نوښه خويونه لکه، حلم، تواضع، صله رحمي، د مسؤليت احساس، محبت، شجاعت، سخاوت او نور په کې وده کوي او شخصيت يي له بدوخويونو لکه:کينه، دښمني، بخل، غيبت، خيانت، حرص او داسې نورو څخه خوندي پاتې کيږي.

**د زده کوونکو هڅونې:**

زده کوونکي دې د درس د محتوی په هکله يو له بل څخه پو ښتنې وکړي.

زده کوونکي دې دښو خويونو داساس په هکله خبرې وکړي.

**ارزونه:** د اسلام په سپيڅلي دين کې ښه خويونه کوم دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوه دیرشم لوست**

# دزړه اصلاح

**هدف:** د زړه د پاکوالي د ګټو سره اشـــــــــــنايي.

پوهيږو چې مونږ دنده لرو چې په الله تعالی ايمان ولرو او دايمان هدف مو دادی چې بايد زمونږ زړونه يواځې په يوه الله تعالی پورې تړلي وي او اراده او عمل مو دالله تعالی له امرونو سره موافق وي همداراز په ټولو عبادتونوکې زمونږ د زړه د پاکووالي اثر پروت دی. د مثال په توګه لمونځ د الله تعالی څخه د ويرې خوی په مونږ کې زياتوي، نو مونږ له بدو او بې حيا کارونو څخه منع کوي، زکات زمونږ زړونه له حرص، بخل او بې رحمۍ څخه پاک ساتي؛ روژه په مونږ کې د حلم او حوصلې خوی پياوړي کوي؛ او د فقيرانو له حال څخه مو خبروي. لنډه دا چې اسلامي عقيده او عبادتونه هر يو زمونږ د زړونو په پاک ساتلو کې اثر لري او دا زمونږ اسلامي او انساني دنده (وظيفه) ده چې الله تعالی په يووالي سره وپيژنو؛ او امرونه يې پر ځای کړو ترڅو زمونږ باطني شخصيت پاک او پياوړی شي او د رواني (روحي) ناروغتياوو څخه خوندي شو همدا راز له اخلاقي ناروغتياوو لکه کبر، بخل، حرص، حسد، خيانت او داسې نورو څخه مو زړونه پاک او خوندي وي، په يوه مبارک حديث کې راغلي دي ( په بدن کې د غوښې يوه ټوټه ده که هغه اصلاح شي نو ټول بدن به اصلاح وي او که فاسده شي نوټول بدن ورڅخه فاسديږي او دا ټوټه زړه دی) نوبايد زړونه اوذهنونه موله بدو فکرونو اوخويونو څخه پاک وي ترڅو مو عملونه اصلاح شي.

**د زده کوونکو هڅوني:**

- ❖ زده کوونکي دې درس په پټه خوله مطالعه کړي.
- ❖ د درس د محتوی په هکله دی يو له بل څخه پو ښتنې وکړي.

**ارزونه:**

- په الله تعالی باندې ايمان، او عبادتونه د کومې موخې لپاره په مونږ فرض دي او څه ګټې لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

**درې دېرشم لوست**

# د ټولنې د افرادوحقوق

**هدف:** د ټـــــولنـــــی د افرادود حقونو پیژندنه.

د ټولنې دغړيو حقوق څوک بيانولی شئ؟

د ټولنې د غړيو حقوق په دوه بيلا بيلو ډولونو ويشو او تر څيړنې لاندې يې نيسو:

**الف:** د مسلمانانو حقوق.

**ب:** د ټولنې د نورو غړيو حقوق.

هر مسلمان په بل مسلمان باندې ځينې ځانګړي حقوق لري. دا حقوق د خپلوی (قرابت) په اصل نه دي ولاړ بلکې د دې حقونو د اثبات لپاره يواځې د دين يووالی کفايت کوي، ځکه چې په مسلمان خپل دين ګران دی نو د خپل دين خاوندان هم بايد ورباندې ګران وي او د هغوی خوشحالي او سوکالي خپله سوکالي وګڼـــي، د هغوی غم او خپګان خپل غم او خپګان وبولي. مسلمان چې کوم شی د خپل ځان لپاره ښه ګڼی د خپل مسلمان ورور لپاره د هم وغواړي. او څه چې ځان ته نه خوښوي، د بل مسلمان لپاره يې هم نه خوښوي.

دا خصلت د مسلمان لپاره د ايمان لويه نښانه ګڼل شوې ده په يوه مبارک حديث کې راغلي دي چې يو مسلمان په بل مسلمان باندې حقونه لري چې ځينې يې دا دي.

١– يو له بل سره نيکي کول.

٢– د ګنهګار لپاره د الله تعالی هدايت او مغفرت غو ښتل.

٣– هغه څوک چې له تا سره يې بد کړي وي ور سره ښه کول.

۴– د يو مسلمان د بل مسلمان سره مينه لرل.

۵– د محتاج سره مرسته کول.

٦– د مشر مسلمان درناوی کول.



(c) ketabton.com: The Digital Library

٧– په کشر مسلمان باندې شفقت کول.
٨– له خپل بل مسلمان ورور سره خیانت نه کول.
٩– بل مسلمان ورور په بده نه یادول.
١٠– دبل مسلمان غیبت نه کول.
١١– په بل مسلمان باندې بد ګماني نه کول.
١٢– په غم او ښادۍ کې دبل مسلمان سره ځان شریک ګڼل.
١٣– مسلمانان جنګ ته نه هڅول بلکې تر منځ یې سوله غوښتل.

**ب: د ټولنې د نورو افرادو حقوق:**

مسلمان دیني او عقیدوي دنده لري چې د ټولنې د ټولو غړیو سره که څه هم اسلامي عقیده ونه لري لاندې امرونه مراعات کړي.

١- د دوی سره په معامله کې خیانت نه کول.
٢- په عدلي قضیایاوو کې ورسره عدالت کول.
٣- په مال او ناموس یې تیری نه کول.
٤- د دوی په عقیدوي امورو باندې چې د اسلامي شریعت سپکاوی په کې نه وي تیری نه کول.
٥- د دوی سره به داسې کړنه کیږي چې د اسلامي شریعت سره مخالفت په کې نه وي.

**د زده کوونکو هڅونې:**

- ❖ زده کوونکي دې پورتنی متن د ښوونکي د شرحې څخه وروسته په پټه خوله مطالعه کړي.
- ❖ زده کوونکي دې په ګروپي ډول د درس د محتوی په هکله یو له بل سره بحث وکړي.

---

**ښاغلی ښوونکی !**

زده کوونکو ته دنده ورکړئ چې په ټو لګي کې دې د پورتنیو حقونو په هکله د خپلې یو هې سره سم خبرې وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور دېرشم لوست

# يو له بل سره مرسته کول

**هدف:** د مرستې سره مينه پيدا کول.

مرسته څه ته وايي؟ مرسته کول څه کټې لري؟ مونږ يو د بل سره ولې مرسته کوو؟

پوهيږو چې د مسلمانانو ټولنه لکه يو جسد داسی ګڼل شوې ده. او افرادې د جسد د غړيو حيثيت لري کله چې يوغړی درد من شي ټول ځان ورسره نا ارامه کيږي.

نو مسلمانان په ټولنه کې په غم او ښادۍ کې سره شريک دي او دنده لري چې خپل ځان د ټولنې د افرادو په غم او خو شحالۍ کې شريک وګڼي. د ټولنې د محتاج فرد سره مرسته وکړي، که چيرې د مرستې کولو توان نه لري نو د هغه په درد کې دې ځان شريک وبولي او په ډيرو خوږو خبرو دې ورته تسلي ورکړي او په دې د پوه کړي چې د مسلمانانو درد شريک دی. هغه مسلمان چې نورو ته يې د مرستې لاس اوږد کړی وي الله تعالی دده مرستندوی دی دا مطلب په لاندې مبارک، حديث کې بيان شوی دی (تر څو چې يو مسلمان د بل مسلمان ورور په مرسته کې وي الله تعالی د هغه مرستندوی دی).

قرآن عظيم لارښوونه کړې ده چې (هره نيکي لس چنده ثواب او اجرلري ) نو د مرستې کولو ثواب لږ تر لږه لس چنده دی. دا د يوه مسلمان نيک بختي بلل کيږي چې د نورو مرستې ته يې لاس او ږد نه وي او له نورو سره په مرسته کولو لګياوي.

**د زده کوونکو هڅوني:**

- ❖ زده کوونکي دې د درس متن پوره مطالعه کړي بيا دې د هغه مطلب ووايي.
- ❖ زده کوونکي دې د مسلمانانو وروڼو د مرستې په هکله يو، يو مثال ووايي.

---

**ښاغلی ښوونکی!** د درس محتوی په ډيره ساده ژبه سره شرحه کړئ! او دزده کوونکو څخه وغواړئ! چې په دې هکله خپل نظرونه څرګندکړي او تا سې په اصلاح کې ورسره مرسته وکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه دیرشم لوست

# مساوات په اسلام کې

**هدف** : په اسلام کې د مساوات د اهمیت پیژندنه.

مساوات یعنی څه ؟ د مساوات ارزښت څه دی؟

مساوات د برابرۍ په معنادی.

په اسلام کې ټول انسانان د هر قوم، نژاد رنګ او هر ځای چې وي په اسلامي او انساني حقونو کې سره برابر دي.

وايي: د مخزوم د قبیلې یوې ښځې غلا کړې وه. د شریعت په حکم د هغې لاس پرې کول وو، خو ځینو اصحابو داسې فکر کاوه چې که د دې ښځې لاس د غلا په وجه پرې شي دا قبیله به دا کار د ځان لپاره ډیر شرم او رسوایي وګڼي او زیاته به خفه شي له بلې خوا محمد صلی الله علیه وسلم د دې قبیلې سره خپلوي لري نوښه به دا وي چې د محمد صلی الله علیه وسلم په وړاندې یې شفاعت وشي ښایي په هغې باندې حد جاري نه کړي.

نو اسامه (رضي الله عنه) یې محمد صلی الله علیه وسلم ته واستاوه تر څو یې شفاعت وکړي او هغه وبښل شي. اسامه(رضي الله عنه) وویل: کله چې محمد صلی علیه وسلم ته ورغلم او موضوع مې ورته عرض کړه؛ نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارکه څیره کې د قهر او غضب نښانې ښکاره شوې او ویې ویل: چې (د الله تعالی له حدودو څخه په یو حد کې شفاعت کوئ!) و درید او ویې ویل: (هغه خلک چې له تاسې د مخه یې ژوند کاوه له دې سببه هلاک شول چې کوم شریف او قوي سړي به غلا وکړه؛ نو هغه ته به یې ښننه کوله او که کمزوري او ناتوان سړي به غلا وکړه په هغه باندې به یې حد جاري کاوه. په الله تعالی مې سوګند که زما لور فاطمه غلا وکړي لاس به یې پرې کړم) له دغې پیښې څخه په ډاګه ثابتیږي چې اسلام د مساوات او عدالت دین دی. او ټول خلک د دې دین د احکامو او انساني حقونو په وړاندې برابر دي.

**د زده کوونکو هڅوني:**

زده کوونکي دې درس په پټه خوله مطالعه کړي.

د درس دمحتوی په هکله دې مباحثه وکړي.

**ارزونه:** آیا زده کوونکي د درس محتوی په خپله ژبه ویلی شي؟

**ښاغلی ښوونکی!** د دې متن په رڼا کې زده کوونکو ته د مساوات په باره کې پوره معلومات ورکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږ دېرشم لوست

# امانت

**هدف** : د امانتدارۍ او امانت لرني له مفهوم سره اشنايي.
امانت څه ته وايي؟ د امانت په اړه زمونږ دنده څه ده ؟

د مسلمان ديني دنده ده چې امانت خيانت نه کړي يعنې که چا کوم شی د ساتنې يا ګټې اخيستنې لپاره ورکړی وي پرته له دې چې هغه زيانمن کړي خپل څښتن ته يې وسپاري.
امانت په دوه ډوله دی:
١- خاص امانت.
٢- عام امانت.

١- خاص امانت: که يو شخص بل ته يو شی د ساتنې يا ګټې اخيستنې لپاره ورکړي دا شی د هغه بل سره خاص امانت دي.

٢- عام امانت: ځيني داسې شيان دی چې ګټه يې عامه وي او ډېر افراد ورسره حقوقي تعلق لري داسې شيان د عام امانت په نامه سره ياد يږي. د مثال په توګه درسي کتاب چې زيات خلک ورڅخه ګټه اخيستلی شي يا يې اخلي د هغه زده کوونکي سره چې په لاس کې يې لري عام امانت دی.

همداراز د داسې دندې په غاړه اخيستل چې ګټې يې ټولنې ته رسيږي عام امانت بلل کيږي ددې اصل په بنا د ټولو حکومتي، عامو چارو لکه د ښوونې او روزنې چارې، قضايي چارې او د داسې نورو عامو چارو په غاړه اخيستل يو عام امانت بلل کېږي د عام امانت څخه بايد داسې ګټه پورته کړای شي چې د هغه اصلي ما هيت ته په کې زيان ونه رسيږي د مثا ل په توګه څوک چې د ښوونې او روزنې دنده په غاړه لري، ښوونځی، زده کوونکي، درسي کتابونه، د درسونو محتوى دا ټول دده سره امانت بلل کيږي او د خپل توان سره سم بايد ځان د دې ټولو امانتونو د ساتنې امين وګڼي.

په يو مبارک حديث کې راغلي دي:( لَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ) کامل نه دی ايمان د هغه چا چې امانت نه لري.
يعني امانت داري د ايمان يوه ځا نګه ده څوک چې دا خوی نه لري دايمان يوه څانګه يې کمه ده.

**د زده کوونکو هڅوني:**
❖زده کوونکي دې د خاص او عام امانت د مفهوم په هکله يو له بل سره خبرې وکړي.
❖ دولتي دندې کوم امانت دی په خپلو ژبويې بيان کړئ!

**ارزوني:** ايا زده کوونکي د امانت په مفهوم پوه شوي دي؟
امانت په څو ډوله دی د عام امانت له پاره يو مثال راوړئ!

**ښاغلی ښوونکی!** د امانت د مفهوم د موضوع ټول اړخونه په ساده ژبه سره پوره تو ضيح کړئ!

## اووه دېرشم لوست

# بد عادتونه

**هدف:** دبدو عادتونو پيژندنه او ورڅخه د ځان ژغورنه.
عادت څه ته وايي ؟ بد عادتونه کوم دي؟ د بدو عادتونو زيان څه دي؟

اکتسابي[1] خوی ته عادت وايي يعنی هغه خوی چې فطری نه وي عادت بلل کيږي عادت د يوه کار او عمل له تکرار څخه په انسان کې ځای نيسي اوفطري اړخ نه لري نو کيدای شي انسان هغه عادت چې ډيره زمانه ورباندې نه وي تيره شوې هير کړي ولې داهم کيدای شي چې يو عادت يې د ډيرې زمانې په تيريدو سره د شخصيت جزء وګرځي او په انسان کې د دويم طبعيت ځای پيدا کړي. انسان د عقل په حکم په دې مکلف دی چې خپل انساني فطرت او شخصيت په ښو او انساني خويونواوخصلتونو عادت او پياوړی کړي له بدو عادتونو او هر هغه شي چې عقلي توازن، جسمي توان ته يې زيان رسوي ترک کړي. اسلامي شريعت له همدې سببه هغه عادتونه چې د انسان عقلي توازن او جسمي توان له منځه وړي حرام ګرځولي دي.
لکه: د شرابو څښل په قرآنکريم کې منع شوي دي، د شرابو څښل په خپل ځان او حيثيت باندې خورا لوی تېری دی ، ځکه چې له يوې خوا د شرابو د څښلو له امله انسان د ښو او بدو تر منځ توپير نه شي کولی، او له بله پلوه د شرابو څښل په مال کې اسراف کول او په خپل لاس د هلاکت کندې ته د ځان غورځولو په معنی دی چې دا دواړه داسلام له نظره حرام دي.

**د زده کوونکو هڅوني:**
- ❖ زده کوونکي دې د شرابو په بد اثر باندې خبرې وکړي.
- ❖ د عادتونو او فطري خويونو تر مينځ فرق بيان کړئ!

**ارزونه:**
آيا د طبيعي خويونو او عادتونو ترمينځ فرق کولی شئ؟

**ښاغلی ښوونکی!** په ټولنه کې د بدعادتونو د ناوړه اغيزو په اړه معلومات ورکړئ.

[1] اکتسابي: کسب کړی شوی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**اته دېرشم لوست**

# دخانيات او بد عادتونه

**هدف:** د دخانياتو دضررونو پيژندنه او له هغو څخه ځان ساتل.

د چرسو، چلم، سګرټو څکول او نسوار کول دا هغه بد عادتونه دي چې د انسان عقل، روح او بدن ته ډېر زيات زيان رسوي عقلاني قوه کمزورې کوي، روحي ګډوډي پيدا کوي، حنجره، ځيګر، غابنونه، هضمي، تنفسي او د ماغي جهازونه ورڅخه زيانمن کيږي. د وينې په دوران هم ناوړه اغېزه کوي په داسې بدو عادتونو اخته کسان د ژوندانه له ټولو نيکو ارزوګانو څخه محروم وي او د دغه بد عادت له امله په فکري، عقلي او جسمي لحاظ کمزوري کيږي. له نيکمرغه او په خپلو متو ولاړ ژوند څخه بی برخې وي له همدې کبله دغه بد عادت د اسلام په مبارک دين کې حرام ښودل شوی دی. لکه چې محمد صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: (هر هغه شی چې نيشه يا سستي راولي حرام دي)اوديوبل مبارک حديث مفهوم دی چې هرنشه راوړونکی شی شراب دي اوشراب حرام دي، هرهغه شی چې ډيريې نشه راولی نودهغولږ هم حرام دي.

**د زده کوونکو هڅوني:**

- ❖ زده کوونکي دې د دخانياتو په بد اثر باندې خبرې وکړي!
- ❖ د دخانياتو زيانونه دې په خپلو ژبو بيان کړي!

**ارزونه:**

د پورتنيو بدو عادتونو په هکله کوم حديث شريف ويلی شئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه دېرشم لوست

# نظافت

**هدف:** د نظافت او پاکوالي له ګټوسره اشنايي.

د اوداسه او غسل احکام مو په تیرو ټولګیو کې وپيژندل دلته يو ځل بيا د نظافت په عامو ګټو رڼا اچوو:

په يو مبارک حديث کې راغلي دي چې (پاکوالی دايمان جز دی ) څوک چې د ځان پــه پاکوالي کې کوښښ نه کوي اسلامي شخصيت يې کمزوری او د اسلامی اخلاقو څخــه پوره برخه نه لري. علماوو ويلي دي چې په بدن کې واړه واړه ســوري دي د خيــرو او خولو په سبب بندېږي او د ناروغی لامل ګرځي، خو که چېرې خپل بدن او جامې پــاکې وساتو له دغو ناروغيو څخه خوندي پاتې کیږو له همدې سببه د اسلام په روښانه دين کې پاکوالی کله فرض، کله سنت اوکله مستحب دی.

د مسواک استعمالول، د نوکانو پرېکول او داسې نور زمونږ د پيغمبرصـــلی الله عليــه وسلم سنت دي.

نو که څوک نظافت نه مراعت کوي سربيره پر دې چې ګنهګارېږي، په ناروغيو هم اخته کيږي لنډه دا چې د ځان، جامو اوکور، پاک ساتل د هر مسلمان دينی دنـــده ده څوک چې دا ديني دنده نه تر سره کوي ګنهګاريږي د خلکو په منځ کې به بې وقاره وي او احترام به يې نه کېږي.

**د زده کوونکو هڅونې:**

- ❖ زده کوونکي دې د نظافت ګټې په خپلو ژبو سره بيان کړي.
- ❖ هر زده کوونکی دې د نظافت يوه، يوه ګټه ووايي.

**ارزونه:** آيا يو زده کوونکی د نظافت په باره کې ځودقيقې خبرې کولی شي؟

---

**ښاغلی ښوونکی!** د درس محتوی په ساده ژبه پوره توضيح کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې

۱. اخلاق تعریف کړئ!
۲. د اخلاقو د ارزښت په باره کې معلومات ورکړئ!
۳. د زړه د اصلاح په باره کې چې څرنګه پوهیږئ ولیکئ!
۴. د زړه د اصلاح په باره کې د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) وینا بیان کړئ!
۵. د تعاون او مرستې د ارزښت او فایدې په هکله معلومات ورکړئ!
۶. د امانت مفهوم واضح کړئ!
۷. د عام امانت مفهوم واضح کړئ!
۸. د اسلامي ټولنې د افرادو د حقوقو په باره کې معلومات ورکړئ!
۹. د غیر مسلمان د حقوقو په باره کې معلومات ورکړئ!
۱۰. د مساوات مفهوم بیان کړئ!
۱۱. هغه حکایت چې د مساوات په باره کې مو ویلئ دی بیان کړئ!
۱۲. عادت تعریف کړئ ایا عادت طبعي منشأ لري؟
۱۳. د بدو عادتونو له جملې څخه ځینې بیان کړئ!
۱۴. د نظافت ګټې بیان کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**